## پنځمه او وروستۍ برخه

# هیله او ژوند

## ناول

# طب محصله

لیکوال: عبید ژوند

**Pashto_novels TELEGRAM**

نه پوهېدم ، څو بجې به وې ، چې خوب وړی وم.

سهار چې راپورته شوم ، هم خوښ وم او هم خپه.

له چای وروسته چې زه کلینیک ته روانېدم او مشر ورور مې خپل کار ته ، مور مې وویل: لږ وروسته زه هم د ګاونډیانو کره ځم.

سمه ده ، لاړه شۀ مې ووې ، له کور راووتم.

تر کلینیک پورې همدا سوچونه وو ، څنګه به شي ؟ مور به مې ښه خبر راوړي او که بد ؟ هغوی به یې خبره ومني او کنه ؟

په لاره هېڅ پوه نه شوم ، چې څنګه تر کلینیک راغلم.

خاضري مې امضاء کړه ، لږ کېناستم ، بیا پوهنتون ته روان شوم ، په دغه لاره هم چورتونه راسره مل وو.

نن لږ راباندې ناوخت و ، چې ورسیدم ؛ نو پنځه دقیقې به ناست نه وم ، چې درس شروع شو.

ناست په ټولګي کې درس ته ؛ خو په فکر کې له هیلې سره وم.

د مور د ورتګ او زما لپاره د غوښتو په کشمکشونو کې ډوب وم.

هېڅ مې فکر پخپل ځای نه و ، څو ځلې ملګرو راته ووې: نن داسې بل ډول یې ، کومه ستونزه خو نه وي ؟

ځواب به مې ورکاوۀ: نه ، هېڅ ستونزه نشته ، بېګا لږ بې خوبه شوی یم ، ځکه داسې یم ، نور مې له زړه یو الله خبر و.

پوهنتون رخصت شو ؛ خو زه پر دې پوه نه شوم ، چې نن درس چا او څنګه تدریس کړ. بس هماغه هیله مې پر ذهن ناسته وه ، هېڅ یې نه پرېښودم ، چې فکر په بله واړوم.

له ټولګي راوواتم ، په دهلېز کې را روان وم ، چې له شا راباندې سلیم غږ کړ: الهامه ، داسې په منډه یې ، ودرېږۀ.

یوې خواته شوم ، چې نور کسان تېر شي ، هغه هم راورسید ، په اوږه یې رابانـدې لاس واچوۀ او راته یې ووې: ملګریه ، په ټولګي کې مې هم درته پام وو ، نن دې چورت بیخي خراب دی ، ان شاءالله خیرت خو به وي ، څه ستونزه خو نه وي ؟

په خندا مې ځواب ورکړ: جار یاره ، هېڅ ستونزه نشته ، بېګا مېلمانه وو ، تر ناوخته ورسره ناست وم ، اوس بې خوبه یم ، ځکه داسې معلومېږم ، نور کومه خبره نشته.

هغه بیا وویل: که کوم څه وي ؛ نو له ما یې مه پټوۀ.

مننه مې وکړۀ او هماغه خبره مې ورته تکرار کړۀ ، چې صرف بې خوب شوی یم.

ښه یې وکړل ، له پوهنتون څخه راووتو.

هغه وې ، چې زه کلی ته ځم ، ډېر ټینګار مې وکړ ، چې نن له ما سره پاتې شۀ ؛ خو بل وخت پاتې کېږم ، په وعده یې ځان خلاص کړ.

خدای په اماني مو وکړۀ ، هغه د کلي په طرف موټر ته پورته شو او زه په زرنج کې کېناستم ، د کلینیک مخته ترې کوز شوم.

نن د هیلې په پلار د نورو ورځو په پرتله د ناروغانو رش زیات وو.

خپل ځای ته لاړم ، د کتابونو بکس مې کېښود او بیا د باندې راووتم.

د نمبر لیکوونکي سره د څو کسانو لانجه وه ، ویل یې ، چې بې نوبته یې کس ته اجازه ورکړۀ.

ورغلم ، ورته مې وویل: ځینو کسانو بېګانی (د شپې) نوم لیکلی وي ؛ خو ناوخت راشي ، هغوی وصولاً اجازه لري ، چې له نورو وړاندې شي ، له دې پرته به هېڅوک هم نه مخکې کیږي.

هغوی خپله سرتمبګي کوله ، چې موږ ساعتونه انتظار وکړ ، هغه اوس راغی او داخل ته لاړ.

په څه خوارۍ مې قناعت ورکړ ، بیا مې نمبر لیکوونکي ته ووې: د چا چې نوبت وي ، هغه دې ورځي ، نور هېچاته بې نوبته اجازه مه ورکوۀ

سمه ده یې ووې او ترې روان شوم.

په ټول کلينيک کې راوګرځېدم ، هره برخه مې وکتله ، کومه خاصه ستونزه نه وه.

يـوه بجـه بـه وه ، چـې ډوډۍ تيـاره شـوه ، ځـان مـې مـوړ کـړ او د لمانځـه لپـاره نـږدې جومات ته لاړم.

لمـونځ چـې مـې وکـړ ؛ نـو لمـر سـخت خونـد راکـړ ، هملتـه پـه جومـات کـې مـې سـر کيښـود ، هماغسـې ويـده شـوی وم ، چـې موبايـل تـه مـې زنـګ راغـی. پـه بېـړه لـه ځايـه پورته شوم ، د موبايل سکرين ته مې وکتل ، نامعلومه شمېره وه.

اوکې مـې کـړ ، پـه دري ژبـه وغږېـدۀ ، ورتـه مـې وويـل: نمبـر دې غلـط کـړی ، اړيکـه يـې پرېکړۀ.

زه په بېړه بېرته کلينيک ته لاړم.

رش يـو څـه کـم شـوی و ؛ خـو اوس هـم خلـک وو. خپلـې کـوټې تـه لاړم ، د چـای پيالـه مې ځـان تـه ډکـه کـړۀ او موبايـل مې راوخيسـت ، هيلې تـه مې زنګ وکـړ ، تـر څـو د مـور د ورتګ پوښتنه ترې وکړم ؛ خو پورته يې نه کړ.

لږ وروسته مې بيا زنګ وکړ ، مګر بيا يې هم ځواب رانکړ.

انديښـنه مې شـوه ، چې اوس ولـې ، موبايـل نـه پورتـه کـوي ؟ چـای مې وڅښـۀ ، يـو ځـل بيا په ټول کلينيک راوګرځېدم.

ورځ هـېڅ نـه تېرېـده ، د مـور ورتـګ او هيلې تـه مې تلوسـه وه ، چې اوس بـه څـه شـوي وي ؟

د کــال غونــدې دغــه لويــه ورځ بلاخــره تــر مزديګــر ورســيده ، خــوښ وم ، چــې بــس ماښام ته خو يو ساعت پاتې دی ، کور ته به لاړم شم ، مور به مې راغلې وي.

ماښام ته نږدې چې کم ناروغان پاتې وو ، ډاکټر وروغوښتم.

حيـران شـوم ، زړه مې درزا شـروع کـړۀ ، مـه ويـل هسـې نـه ، چې زمـا د مـور ورتـګ پـه اړه يې له کوره زنګ ورته وهلی وي.

زړه مې بې واره ټوپونـه وهـل ، چې ورننـواتم ، سـلام مې وکـړ ، پـه مخـامخ چـوکۍ ورتـه کېناستم.

علیکم سلام یې ووې او بیا یې زیاته کړۀ: الهامه ، نن شپه همدلته پاتې یو ، ځینې ناروغان راځي ، ته هم راسره ښه یې. سمه ده ، پاتې کېږم مې ووې.

هغه وویل: بس همدا خبره مې درته کوله ، نور د ماښام اذانونه کیږي ، زه به دغه پاتې ناروغان وګورم ، ورته غږ کړۀ.

له ځای پورته شوم او د باندې راوواتم ، نمبر لیکوونکي ته مې وویل: د چا نوبت دی ، ناروغ ورولیږۀ او بیا کوټې ته لاړم.

سخته غوسه راغلې وه ، له ځان سره مې ووې: ښه اوس دا زما قسمت ته وګورۀ ، په دې دومره وخت کې نن بیا دلته راباندې شپه شوه.

له ماښام لمونځ وروسته مې کوچني ورور ته زنګ وکړ ، لومړۍ مې د مور پوښتنه ترې وکړۀ ، چې راغلې او کنه ؟

هو راغلې ده ، یې ووې. بیا مې پوښتنه وکړۀ ، که دلته نږدې وي ؛ نو ته موبایل ورکړۀ: ځواب یې راکړ: زه خو د باندې یم ، چې کور ته لاړم شم ؛ نو بیا زنګ درته کوم.

اړیکه مې پرې کړۀ.

په چوکۍ کې مې تکیه وکړۀ او دسمال مې په سر واچوۀ ، په چورتونو کې ډوب وم ، چې د هیلې زنګ راغی.

له اوکې سره سم مې ورته ووې: زنګ خو پورته کوۀ ، له اندېښنې دې مړ کړم.

هغې وویل: اول سړی سلام کوي ، تا جنګ پیل کړ ، پوښتنه وکړۀ ، چې ولې مې زنګ پورته نه کړ ؟

په غوسه مې ځواب ورکړ: هو ، بیا به یوه بهانه وکړې او خبره مې وغځوله: ښه اوس دا پرېږدۀ ، نن زه کلینیک کې پاتې یم ، مور درغلې وه ، کنه ؟ څنګه شوه ؟

هو ، مور راغلې وه یې ووې ، چې نور څه یې ویل ؛ نو د هیلې پلار کوټې ته راننوات ، موبایل مې په بېړه له غوږ لرې کړ او وداربدم.

ډاکټر راته وویل: الهامه ، وبخښۀ موبایل کې خبرې هم کوې ، نن هغه دوه نرسان نشته ، چې فقط هلته له مریضانو سره اوسي ، زه دغه نوي راغلي ناروغان ګورم ، که څه خبره وه ؛ نو ماته وایۀ.

سـمه ده ولـې نـه مـې ووې ، موبايـل تـه مـې وکتـل اړيکـه پـرې وه ، لـه ډاکټـر سـره لـه کوټې راووتم.

هغه خپلې معاينه خانې ته لاړ او زه يې تر څنګ د مريضانو خونې ته.

هلتـه راتـه مناسـبه نـه ښـکاره کېـده ، چـې هيلـې تـه بېرتـه زنـګ وکـړم ، ځکـه د کنټـرول کمره هم لګېدلې وه او بل ناروغانو ته مزاحمت وو.

وټسـاپ تـه ننـواتم ، چـې ومـې کتـل انټرنېـټ مـې خـتم و او پـه موبايـل کـې مـې هـم دومره روپۍ نـه وې ، چـې نـور مې فعـال کـړی ، صـرف مې هيلـې تـه پـه لنډ ليکلي پيغـام کې وليکل: زه بيا وروسته زنګ درته کوم.

هغـې هـم د پـلار خبـرې چـې اورېـدلي وي ، پـه ځـواب کـې يـې راوليکـل: تـه اوس لـه پلارجان سره کومک وکړه ، بيا غږېږو.

ښـه غوسـه راغلـې وه ؛ خـو بلـه چـاره نـه وه ، ځکـه دلتـه مـې دنـده وه او پيسـې يـې راکولې.

لږ وروسته مې کوچني ورور زنګ راوکړ ، چې ناوخت دې کړ ؟

ځـواب مـې ورکـړ: بيخـي مـې لـه يـاده وتلـي و ، زه نـن همدلتـه کلينيـک کـې پـاتې يـم ، ناروغان زيات دي.

سمه ده يې ووې او اړيکه مو پرې کړه.

بـار ، بـار بـه پـه مريضـانو راګرځېـدم او پوښـتنه بـه مې يـې کولـه ، چـې کـوم مشـکل خـو نه لري ؟

تـر ناوختـه همدلتـه مصـروف وم ، يـو وخـت چـې مـې سـاعت وکتـل ؛ نـو څـه د پاسـه يوولس بجې وې.

ډاکټـر هغـه نـور ناروغـان کتلـي و ، دواخـانې والا ماتـه راغـی او راتـه يـې وويـل: بـس نـور ته ورځه ، زه همدلته يم.

ورتـه مـې ووې: کومـه خبـره نـه ده ، زه هـم درسـره يـم ؛ خـو هغـه ټينګـار کـاوه ، چـې نـور تاته اړتيا نشته ، ارام وکړه.

خپلې کوټې ته راغلم ، په بېړه مې هیلې ته زنګ وکړ ؛ خو پورته یې نه کړ. لږ غلی شوم ، چورتونه مې وهل ، بیا مې ورته زنګ وکړ ؛ مګر ځواب یې رانکړ. له ځان سره مې وویل: ویده شوې به وي ، ناوخت دی.

فکر مې بیخي خراب و ، ځکه ټول ورځ او بیا شپه پټه ونه لګېده ، چې اوس څه شوي دي ، مور مې ورته ویلي دي او کنه ؟

نور خو پوهېدم ، چې د هیلې پلار همدلته دی.

همدا سوچ راسره مل و ، هېڅ خوب نه راته ، ډېر په یو او بل لټ واوښتم.

اخېر له ځای پورته شوم او د باندې راوواتم. د کوټې مخ ته ایښې چوکۍ مې یو طرف د ناروغانو له کوټې پناه کېښوده او کېناستم.

اسمان ته مې وکتل ، سپوږمۍ لکه مسته پېغله ډېر په ناز یې هرې خواته رڼایي وېشلې وه او غلی یې د اسمان په شنه ځمکه قدم وهڅ.

د باندې په سرک به یو نیم موټر تېرېده او زما پام به یې وراړوڅ.

ماته نږدې په تازه غوړېدلي ګل باندې نه پوهېږم مچۍ ته ورته څه شی زنېدل او زه د هیلې سوچ وړی وم.

له ځان سره مې ویل: زما قسمت ته ګورڅ ، اول ورځ نه تېرېده ، لکه کال دومره اوږده شوه ، چې شپه راغله ، بیا دلته پاتې شوم.

رڼا تته شوڅ ، سپوږمۍ ته مې وکتل ، ښکلی مخ یې تورو وریځو نیم ور پټ کړی و ؛ خو هغې هڅه کوله ، چې مخ لوڅ کړي او خلک یې له ننداري خوند واخلي.

لږ وروسته په مکمل تول سپوږمۍ د وریځو غېږې ته ورغلڅ او پر ځمکه تیاره شوه ، زما هم نور زړه تنګ شو ، بېرته کوټې ته لاړم او د خوب په ځای کې اوږد وغځېدم ؛ مګر خوب مې هماغسې تښتېدلی و.

ښه شېبه وروسته په موبایل کې همداسې مصروف خوب وړی وم.

سهار کې د کلینیک یو نرس راباندې غږ وکړ: پورته شڅ ، ناوخت دی.

په بېړه په ځای کې کېناستم ، چې ساعت ته مې وکتل ؛ نو څه د پاسڅ ، نهه بجې وې. ژر ، ژر مې کمپله ټوله کړه ، تشناب ته لاړم ، لاسونه او مخ مې ومینځل.

د پوهنتون وخت تېر شوی و ، موبایل مې راواخیست ، چې ګورم هیلې په اوو بجو کې دوه زنګونه راته وهلي وو.

بېرته مې زنګ ورته ونه کړ ، ځکه پوهېدم ، چې هغه به په تولګي کې وي او ځواب نشي راکولای.

له ځان سره مې پرېکړۀ وکړۀ ، چې د هیلې له پلار به اجازه اخلم ، کور ته به ځم.

همداسې مې وکړل ، معاینه خانې ته ورغلم ، ورته مې وویل: زه یو ځل کور ته ځم ، لږ کار مې دی ، بیا ان شاءالله بېرته راځم.

سمه ده ، لاړ شۀ یې ووې او له کلینیک راوواتم. دا چې د مور سره خبرو ته مې بېړه وه ؛ نو زرنج ته پورته شوم د کور په لور مو حرکت وکړ.

نیمه لاره به مو وهلې وي ، چې په رش کې بند پاتې شو ، زرنج والا ته مې پیسې ورکړې او زه ترې ښکته شوم.

اوس تر کوره لس دقیقې لاره ، لکه کال داسې شوه ، هېڅ رسیدم نه.

د کور په طرف کوڅې ته چې تاوو شوم ؛ نو ایله مې زړه د ارام ساه واخیسته ؛ خو په دې درزاېده ، چې مور به مې ښه خبر راوړی وي او که بد ؟

په همدې سوچونو کې له لویې دروازې داخل شوم ، مور مې په برانډه کې لمر ته ناسته او د چای پیاله ورته ایښې وه.

سلام مې وکړ. علیکم سلام یې ووې او بیا یې زیاته کړۀ: زویه ، سترګې دې داسې سرې دی ، لکه چې د شپې د خوب نه دی کړی ؟

ورته مې وویل: مورکې ، بېګا تر ناوخته ناروغان وو ، چې هغه ختم شول ؛ نو بیا ماته خوب نه راته ، اوس لږ بې خوبه یم.

مور مې ماته هم د چایو پیاله ډکه کړۀ او راته یې ووې: دا وڅښۀ ، بیا کوټه کې ویده شۀ.

پیاله مې راواخیسته ، ورته مې وویل: مورجانې خوب پرېږدۀ ، پرون د څه وکړل ، ماښام مې میوند ته زنګ راوهلی و ، هغه د باندې و.

مور مې له چای غوړپ وکړ ، بیا یې ماته ووې: زویه ، ډېر ښه خلک دي ، زه پرون ورغلې وم ، له مور سره یې وغږېدم. هغې راته وې ، چې زه خو هېڅ نه وایم ، ما مې خپلې لور ته خوښه ورکړې ده ؛ خو پلار یې لږ داسې بل ډول دی ، چې بېگاته راشي ؛ نو مشوره به ورسره وکړو ، چې هغه څه وايي.

ورته مې وویل: بیا موږ ته څنگه وايي ، چې خوښه یې ده او کنه ؟

ځواب یې راکړ: مور یې ویل ، چې موږ به زنگ درته وکړو.

د چای ترموز مې یوې خواته کړ ، مور ته نږدې شوم ، ورته مې ووې: مورکۍ ته خو به یې دومره په خبرو پوهېدلې وې ، د هغوی زړه وو ، چې موږ ته یې راکړي ؟

ځواب یې راکړ: د ډاکټرې او مور خو یې زړه وو ، له پلار څخه یې نه یم خبره ، بیا یې خبره وغځوله: که له دې خلکو سره مو دوستي وشي ؛ نو بختور یو. دومره ارام او عزتمند خلک دي ، چې پوښتنه یې مه کوه ، بل دغه جینۍ ډېره تکړه ده ، له لاسه یې هر څه پوره دي. موږ غرمه نږدې ورغلو ، په یو ساعت کې یې هر څه تیار کړل.

په خندا مې ورته ووې: مورکې ، ولې ته ما نه گورې ، دا هم زما غونډې تکړه ده ، چې دواړه یو ځای شو ؛ مزې کوه.

مور مې هم وخندل او بیا یې زیاته کړه: اول هر څوک ښه وي ؛ خو داسې نه وي ، چې وروسته ما پرېږدئ او تاسو بېل شئ.

ورته مې وویل: مورکۍ ، خدای دې نه کړي ، داسې هېڅکله مه وایه ، موږ له تا پرته نور څوک لرو ؟ بیا مې خبره وغځوله: مورې ، ته دې ته زړه مه خوره ، داسې چې کېږو ، خدای مو دې بیخي واده نه کوي.

مور مې ووې: زویه ، زه په دې خوشالېږم ، چې تاسو ښه ژوند ولرئ او ارام وئ او بیا له ځایه پورته شوه ، راته یې وویل: سترگې دې له خوب ډکې دي ، لاړ شه ویده شه ، زه به د غرمې ډوډۍ غم وخورم.

سمه مې ووې او مور مې د نغري په لور لاړه او زه د کوټې.

د اوبو جبک مې ځان ته پر مېز کېښود او په کټ کې څملاستم ، دا چې د شپې مې بیخي کم خوب کړی و ؛ نو په څو شېبو کې ویده شوی وم.

یـو وخـت چـې کـوچنې ورور غـږ رابانـدې وکـړ ، سـاعت تـه مې وکتـل ، څـه د پاسـۀ ، دوه بجـې وې. پـه بېـړه لـه ځـای پورتـه شـوم ، اودس او لمـونځ مـې وکـړل ، مـور مـې ډوډۍ راته تیاره ایښې وه ، هغه مې وخوړۀ او کلینیک ته روان شوم.

پـه لار کې مې نـن بیـا پـر دې سـوچونه وهـل ، چـې د هیلـې پـلار بـه څـه وایـي ؟ بېګاتـه بـه کـور تـه ځـي او کنـه ؟ خـو پـه دې مې ځـان تـه داد ورکـوۀ ، چـې مـور یـې خبـره منلـې وي ؛ نو ان شاءالله پلار به یې هم څه نه وایي.

پـنځلس دقیقـې وروسـته کلینیـک تـه راورسـیدم ، چـې ومې کتـل ، نـن د نـورو ورځـو پـه پرتله ناروغان کم وو.

د هیلـې پـلار هـم لـه یـو پېژنګلـوي مـریض سـره لـه معاینـه خـانې د بانـدې د خـدای پـه امانۍ په پار راوتلی و.

هغـه یـې رخصـت کـړ ، چـې زه یـې ولیـدم ؛ نـو یـې راتـه ووې: الهامـه ، بیخـي مې لـه یـاده وتلې و ؛ کنـه مـا ویـل ، چـې زه بـه درتـه زنـګ کـوم ، چـې بېګـا بې خوبـه شـوی یـې ، نـن مه راځۀ.

مننـه مې وکـړۀ ، بیـا مې ورتـه ووې: ډاکټـر صـیب ، خـوب مـې وکـړ ، ځکـه ناوخـت هـم شوم ، په کور کې چې څه کار نه وي ؛ نو تنګېږم ، له هغه دلته ښه یم.

سمه ده یې ووې او بېرته خپل کار ځای ته ننواته.

زه د دواخـانې والا خواتـه ورغلـم. هغـه چـې ولیـدم ؛ نـو راتـه یـې ووې: پخیرونـو ، ایلـه چې ومې لیدې ، ټوله ورځ مې نه تر سترګو کېدې ، زه مصروف وم او که ته نه وې ؟

پـه خنـدا مې ځـواب ورکـړ: تاسـو کلـه زمـا غونـدې غریبـان وینـئ ، خـدای بـه دغـه وختونـه هم تېر کړي.

هغـه هـم موسـک شـو او راتـه یـې وویـل: د کلینیـک مالـک یـې ، بیـا څنګـه غریـب شوې ، اصل کې خو باید موږ ګیله وکړو ، چې پوښتنه نه کوې.

ورتـه مې ووې: بېګـا چـې تـه راغلـې او ماتـه دې اجـازه راکـړۀ ، تـر څـو ویـده شـم ؛ نـو یـو وار مې خـوب وتښـتېده ، پـه ټولـه شـپه کې بـه مې یـو سـاعت خـوب هـم نـه وي کـړي ؛ نـو سـهار سـخت بې خوبـه وم او بـل مې پـه کـور کې لـږ کـار هـم و ، کـور تـه لاړ وم ، اوس راغلم.

ښه خیرت وو ؟ یې ووې او بیا یې زیاته کړۀ: بس مکسد چې ښه وې ، نور یې کیسه کې مه کېږۀ.

هو خیرت وو ، مې ورته ووې او بیا مو تر ډېره کیسې وکړې ، د مزدیګر له اذان سره ترې خپلې کوټې ته راغلم.

لږ وروسته چې مې لمونځ وکړ ؛ نو د باندې په مریضانو وګرځېدم ، ماښام ته نږدې ټول ناروغان ختم شول او نن د هیلې پلار هم وختې کور ته لاړ.

دا چې نور کار نه وو ؛ نو زه هم کور ته روان شوم ، خوښ وم ، چې نن د هیلې پلار وختي لاړ ؛ ځکه خبره به معلومه شي.

له ځان سره مې ویل: نن مې ټوله ورځ له هیلې سره خبرې نه دي کړي ، د شپې به لږ ناوخت زنګ ورته وکړم ، تر هغه یې ګوندې مور هم له پلار سره غږېدلي وي.

د شپې مې چې ډوډۍ وخوړۀ ؛ نو تر ډېره له مور او ورونو سره ناست وم ، تقریباً نهه بجې به وې ، چې د څنګ کوټې ته واوښتم ، تر څو هیلې ته زنګ وکړم.

تر بیا ښې چارې

لمونځ مې وکړ ، بیا مې موبایل راواخیست او هیلې ته مې زنګ وکړ ؛ خو ځواب یې رانه کړ.

ساعت ته مې وکتل دومره ناوخت هم نه و ، له ځان سره مې ووې ، چې شاید له مور او پلار سره به ناسته وي ؛ نو بل زنګ مې ونه کړ.

کټ ته پورته شوم ، بالښت ته مې تکیه وکړۀ او فسبوک مې راخلاص کړ.

تر ډېره په هماغه کې اخته وم ، چې د هیلې زنګ راغی.

له اولې ټالۍ سره سم مې اوکې کړ: په خندا یې ووې: لکه چې تیار ورته ناست وې ، دومره ژر دې پورته کړ ؟

په خندا مې ځواب ورکړ: په فسبوک کې لګیا وم ، چې زنګ دې راغی ؛ نو ځکه مې ژر اوکې کړ.

ښه یې وکړل او بیا یې وویل: اې ریښتیا سلام.

ځواب مې ورکړ او ورته مې ووې: لکه چې اول دې سلام له یاده وتلی و ؟

په خندا یې وویل: لېونۍ یم ، اول د موبایل په زر پورته کېدو لګیا شوم.

ورته مې ووې: ته خو دغسې یې ، د سلام پر ځای کله له اوله جنګ کوې او کله بیا داسې خبرې وې.

غلی شۀ ، یې راته ووې او بیا یې زیاته کړۀ: هر وخت کله داسې یم ، تاته هغه بل پرون نه یادېږي ، چې له اوکې سره سم دې جنګ پیل کړ ، ځان نه وینې ؛ خو ماته دې داسې پام وي. په خندا مې ځواب ورکړ: ښه دا خبرې پرېږدۀ ، داسې نه وي ، چې له ټوکو ریښتیا جنګ جوړ شي ، څنګه یې ؟

ښه یمه یې ووې او بیا یې له پوښتنه وکړۀ ، چې ته څنګه یې ؟

ورته مې وویل: شکر دی بیخي ښه یم ؛ خو ته مې یادېږې ، د پرون مزدیګر راهیسې نه وو سره غږېدلي.

هغې ووې: قربان دې شم ، زه دې صدقه ، زما هم ډېر یادېږې ، زړه مې داسې درته وچ وو ؛ خو پرون شپه ته له پلار سره وې ، نن د ورځې زما لږ کارونه وو ، بس موقع نه وه ، چې زنګ مې درته وهلی وای ؛ خو ښه شوه ، چې اوس مو خبرې وشوې.

هو شکر دی مې ووې او بیا مې زیاته کړۀ: زنګ مې درته وکړ ؛ خو پورته دې نه کړ ؟

ځواب یې راکړ... زه د مور دوی سره ناسته وم او موبایل مې هغه بله کوټه کې ایښی و.

ښه مې وکړل او بیا مې پوښتنه ترې وکړۀ ، چې څنګه شوه ؟

هغې ځان ناګاره واچوۀ ، څه شی څنګه شوه ؟

په خندا مې ځواب ورکړ: وای ریښتیا غلط شوم ، هېڅ شی هم نه.

له خندا شنه شوه ، راته یې ووې: داسې ژر دې کیسه واړوله ، ښه سره پوهېږو.

ورته مې وویل: زه پوهېدم ، چې ښه پوهېږې ؛ خو هسې مې غږوې.

لږ غلې وه ، بیا یې زیاته کړۀ: زه ترې اوس بلې کوټې ته راغلم ، مور او پلار جان ناست وو ، زما په مخکې خو نه پرې غږېږي ، کېدای شي اوس مې مور ورته ویلي وي. زه بیا سبا له مور پوښتنه کوم.

ورته مې وویل: هیلووو ، پلار جان دې څنګه دی ؟ هسې نه چې مخالفت وکړي ، وايي به چې دا ګوره او مور ګورهٔ ، ما نور څه ویل ، چې هغې مې خبره پرې کړهٔ: بس ، نور مه غږېږهٔ ، ولې تاسو څنګه يئ او مور څنګه ؟ هېڅ وخت به دغه خبرې نه کوې.

پلار مې هم په دا کیسو پسې نه ګرځي ، اوس څه نشم ویلی ، سبا چې مې پلار کلینیک ته لاړ شي ؛ نو زه له مور پوښتنه کوم ، چې څه يې سره ویلي دي.

بیا مې ورته ووې: هیلوګۍ ، زه خو داسې وېرېږم ، که پلار دې خبره ونه مني ؛ نو بیا به څه کوو ؟

هغې په خندا وویل: لېونیه ، هېڅکله منفي فکر مه کوهٔ ، لا خو خبره بیخي معلومه نه ده ، ته دا خبرې کوې ، خدای به هر څه سم کړي ، ان شاءالله ، زړه مه خورهٔ.

ورته مې ووې: زما خو زړه دومره ، دومره درزیږي ، ته به وایې ، چې له سینې بهر راوځي ، څه به کیږي ؟

له زړه دې جار شم يې ووې او بیا يې زیاته کړهٔ: په خدای باور ولرهٔ ، اندېښنه مه کوهٔ ، هر څه هغه لوی رب کوي.

هو بېشکه مې ووې او بیا هغې خبره بله خوا واړوله: ښه کارونه دې څنګه دي ؟ پلار جان خو به دې زیات ستړی کوي نه ؟

ځواب مې ورکړ: نه ، بیخي لکه ساعتری ، بل زما کار ستړی کوونکی نه دی.

تر ناوخته مو ډېرې کیسې وکړې ، بیا هغې ووې: اې الهامووو ، ته ساعت ته وګورهٔ ، سبا به پوهنتون ته ځو او بیا ستا کلینیک دی.

هو مې وکړل او ورته مې وویل: نور ویده کېږو ؛ خو سبا به په وخت راته معلومات راکوې ، چې پلار دې څه ویلي دي.

سمه ده يې ووې ، بیا يې د معمول په څېر خدای پاماني راسره وکړهٔ: سترګې دې ښکلوم ، ښه شپه ولرې.

خواږه خوبونه ګورهٔ ، چې بغیر له ما دې بل څوک په خوب رانشي ؛ ګني وژنم دې.

ورته مې وویل: ستا نه بغیر هېڅوک نه وینم ، ته ارامه ویده شهٔ او اړیکه مو پرې کړهٔ.

اوس مې نو د هیلې پلار به خه ویلې وي ، ذهن ته راولوېدل ، تر ډېره یې ویښ ساتلی وم ؛ خو بیا مې په دې ځان ته داد ورکړ ، چې هغه یو ډاکټر دی او بل ډېر مهربان ، ان شاءالله د لور د خوښې مخالفت به نه کوي.

په همدې سوچونو کې خوب د ځان ملګری کړی وم ، سهار چې مور راباندې غږ وکړ ؛ نو په بېړه راپورته شوم.

اودس او لمونځ مې وکړل ، د مور کوټې ته لاړم.

لمر تازه څرګ وهلی و ، چې چای تیار شو ، له هغه وروسته نن لږ وختي کلینیک ته روان شوم ، ځکه غوښتل مې چې په لاره هیلې ته زنګ وکړم ، چې خبره څنګه شوه ؟

له کوره چې راووتم ؛ نو لږ وړاندې مې موبایل راواخیست ، د هیلې نمبر مې اوکې کړ ؛ مګر زنګ تېر نشو. بیا مې وکتلو ؛ خو شمېره یې بند وه.

تر کلینیک پورې مې یې څو ځلې شمېره وکتله ، مګر بې ګټې وه.

اندېښنه مې شوه ، چې ښکا یې راته ویل ، زه معلومات درکوم او اوس یې بیخي موبایل بند دی.

شیطان دغه وسواسه راپیدا کړۀ ، چې ممکن پلار یې مور ته ، منفي ځواب ورکړی وي ؛ نو ځکه به یې نمبر بند کړی وي.

کلینیک ته چې ورسیدم ؛ نو سیده خپلې کوټې ته لاړم.

لږ کېناستم ، بیا مې حاضري امضاء کړۀ او پوهنتون ته روان شوم.

د هیلې نمبر بندېدو ته مې سخته تلوسه وه ، پوهنتون ته نږدې مې موبایل ته زنګ راغی ، په بېړه مې یې سکرین ته وکتل ، د نرسې شمېره وه ، اواز مې پرې بند ، ځواب مې ورنه کړ.

څو شېبې وروسته یې بیا زنګ راووهۀ ، غوسه راغلۀ ؛ خو بیا مې اوکې کړ.

سلام یې وکړ او بیا یې راته ووې: ته خو زنګ نه کوې ، چې زه یې کوم ، ځواب خو راکاوۀ.

علیکم سلام مې ووې او بیا مې ورته وویل: لږ مصروف وم ، که مې نه پورته کاوۀ ، اوس مې هم خبرې درسره نه کولې.

امممم یې وکړل او بیا یې زیاته کړۀ: زه چې دې پوښتنه ونه کړم ؛ نو ته یې نه کوې ، ولې بده دې راځم ؟

په خندا مې ځواب ورکړ: دا خبرې بیا له کومه راپیدا شوې ، یو خو ته هر وخت ګیلې کوې.

خود به یې کوم یې ووې او خبره یې وغځوله: نه پوهېږم ، ځان دې بې پروا کړی دی او که ریښتیا دغسې یې.

ورته مې وویل: ولې زه څنګه یم ؟

ځواب یې راکړ: وخې ، څه ساده یې ، اوس درته معلومه هم نه ده ، چې ته څنګه یې ، هر څه کوۀ ؛ خو دا ځان ناګاره مه اچوۀ.

هغې نور څه ویل ؛ خو خبره مې یې ونیوه: خدای خبر ولې راته داسې وایې ، زما سره شف ، شف مه کوۀ ، ساده سړی یم ، هر څه صفا راته ووایۀ.

ویې خندل او بیا یې زیاته کړۀ: اوس یې خوند وکړ ، چې ته ساده شوې ؛ نو له نورو خو ګیله نه ده پکار ، وخې زړه مې درته بد شو.

هو کنه مې ورته ووې.

لږ غلی وه ، بیا یې راته وویل: اې ریښتیا ، ته چې کوم کلینیک کې کار کوې ، هغه زما د ترور خاوند دی ، زه خبره نه وم ؛ خو هغه بل پرون مې له ترورزۍ سره خبرې کولې ، د څه شي نه خو خبره راغلۀ ، ان ریښتیا رایاد شول ، مور دې زمونږ کره راغلې وه ، ترورزۍ مې راته ووې ، چې زوی یې زما له بابا سره کار کوي.

ځان مې بیا ناخبره واچوۀ ، ورته مې ووې: ښه هغه ستا خپلوان دي ؟ ډاکټر ډېر ښه سړی دی.

هو یې وکړل او راته یې ووې: که کوم مشکل و ؛ نو ماته وایۀ ، زه به مې ترور / د ترور لور ته وایم ، داسې یې وبولۀ ، چې خپل ځای دې دی.

مننه مې وکړۀ ، نور مې نه غوښتل ، چې خبرې مو اوږدې شي ؛ نو مې ورته وویل: زه پوهنتون ته راورسېدم.

سمه ده یې ووې او بیا یې راباندې ټینګار وکړ ، چې که کومه ستونزه وي ، ماته به وایې.

ورته مې وویل: خدای دې کوم مشکل نه پېښوي ، که بیا هم کومه خبره وه ؛ نو حتماً درته وایم ، نور مو خدای په اماني وکړۀ.

اړیکه مو چې ښنګه پرېکړۀ ، هیلې ته مې زنګ وکاته ؛ خو بند وه.

بیخي حیران وم ، چې اوس څه وکړم ، په همدې سوچونو کې د پوهنتون په عمومي دروازه داخل شوم ، سیده د ټولګي په طرف لاړم.

دیوال ته نږدې په چوکۍ کېناست او پښې مې وغځولې ، هېڅ نه پوهېدم ، څه وکړم ، اندېښنه مې شېبه په شېبه زیاتېده.

په څو دقیقو کې نور ټولګیوال هم راغلل ، چې زه یې ولیدم ؛ نو راته یې ویل: خیرت دی ، ښنګه داسې یوازې ناست یې ؟

ځواب مې ورکړ: هو خیرت دی ، نن لږ وختي راغلی وم ؛ نو ځکه.

په څو شېبو کې ټولګی ډک شو ، د درس شروع کېدو ته هم کم وخت پاتې و ، چې سلیم راغی او ښنګ ته مې کېناست.

سترې مشي مې ورسره وکړل ، راته یې ووې: ته ښنګه نن له ما څخه وختي ټولګي ته راغلی یې ؟ ما خو د باندې کتلې.

ورته مې وویل: نن له تا مخکې راغلم ، ما وې ، چې څه به هره ورځ وروسته راځم.

ویې خندل او بیا یې زیاته کړۀ: افرین والا ، دا تکړه شوی یې.

ما هم وخندل او په اوږده مې ووهۀ ، ورته مې وویل: څه کیسې دي ؟ کلي کې خیرت و ؟

ځواب یې راکړ: بیخي ارامه ارامي ده ، کلي کې هم خړې مزې دي ، ته وایۀ ، ښنګه چل دی ، ښار مو په څه غورو کې دی ؟ کارونه خو دې ان شاءالله ښه دي ؟

ورته مې ووې: والا تر اوسه خو د الله احسان دی ، قراري ده ، کارونه مې هم بیخي ښه دي ، بس دومره پکې مصروف یم.

هغه څه ویل غوښتل ، چې استاد ټولګي ته راننوت.

خبره یې پاتې شوه ، د استاد سلام ته مو ځواب ورکړ او ټول د هغه خواته متواجې شوو.

زه ظاهراً په ټولګي کې درس ته ناست وم ؛ خو فکر مې له هیلې سره بند و.

له ځان سره مې ویل: ولې یې موبایل بند دی ؟ کومه ستونزه ده ؟ پلار یې منفي ځواب ورکړی او که څنګه ؟ خو هېڅ مې سر نه خلاصېده ، هر څومره هڅه مې چې کوله ، تر څو درس ته پام واړوم او متواجې اوسم ؛ خو نه کېده. یو په بل پسې ساعتونه بدلېدل ؛ مګر زه هېڅ پوه نه شوم ، چې کوم استاد ، څه شی تدریس کړل ؛ خو پوهنتون رخصت شو.

هیلې ته مې سخته غوسه راغلې وه ، له ځان سره مې ویل ، چې هر څنګه خبره وي ، موبایل خو مه بندوه.

بېرته تر کلینیک پورې په لاره هېڅ پوه شوی نه یم ، تقریباً یوه بجه به وه ، چې ډوډۍ تیاره شوه ، زړه ته مې نه کېده ؛ خو ورسره کېناستم. څو مړۍ چې مې وکړې ؛ نو موبایل ته زنګ راغی.

له جېب مې راوویست ، چې ګورم د هیلې شمېره وه ، ډوډۍ مې پرېښوده ، د باندې ورته راوواتم.

موبایل مې اوکې کړ ، هغې سلام وکړ ، غلی مې ځواب ورکړ ، راباندې پوه شوه ، چې غوسه یم.

په خندا یې راته ووې: بیا دې ولې خوله کاږه نیولې ده ، خیرت دی ؟

ورته مې وویل: هو ، موبایل دې بند دی ، ماته دې ښه معلومات هم راکړل ، بیا وایې ، چې خوله دې ولې کاږه نیولې ده. ما نور څه ویل ، چې هغې خبره راپرېکړه: الهاموووو بخښنه غواړم ، بېګا چې ویده کېدم ؛ نو موبایل راپسې بند شوی و ، سهار د پوهنتون راباندې ناوخت شوی و ، په بېړه مې ځان برابر کړ ، موبایل مې بیخي له یاده وتلی و ، هماغسې کور کې رانه پاتې و ، نور زما له زړه هم نه وې وتلی ، ځکه پوهېدم ، چې اندېښنه به دې وي ؛ خو هېڅ چاره نه وه ، اوس راغلم ، دادی سمدستي مې درته زنګ وکړ.

لږ غلی وم ، بیا مې ورته ووې: ته همداسې بې غمه یې ، په ما دې قیامت تېر کړ ، ما ویل اوس څه درباندې وشول ، چې موبایل دې بند دی.

ویـې خنـدل ، بیـا یـې بخښـنه وغوښـته او زیاتـه یـې کـړه: ښـه ځنګـه یـې ؟ پوهنتـون تـه راغلی وې ؟

ښه یم ، هو پوهنتون ته تللی وم ، مې ووې ، ته ځنګه یې ؟

زه هم ښه یم یې ووې.

بیا مې د پلار پوښتنه ترې وکړه ، چې ځنګه چل شو ؟

هغې وویـل: همـدا اوس کور تـه راغلـم اول مې تاتـه زنـګ وکـړ ، تـر اوسـه لـه مـور سره نـه یم غږېدلې ، ډوډۍ چې وخورم ؛ نو پوښتنه ترې کوم ، تاته بیا وایم.

په خندا مې ورته ووې: هسې نه وي ، چې ورکه شې ؟

هغـې هـم وخنـدل او ځـواب یـې راکـړ: نـه ، چـې ځنګـه مـې ډوډۍ وخـوړه ؛ نـو لـه مـور پوښتنه کوم ، څه یې چې ورته ویلي ، زه تاته وایم.

ښه مې وکړل.

هیلـې خـدای پـه امـاني وکـړه ، اړیکـه مـو پـرې کـړه. زه بېرتـه کـوټې تـه لاړم ، دوی ډوډۍ خــوړلې وه ، اشــپز ماتــه شــیان پریښــي وو ، ورتــه مــې وویــل: مننــه ، زه مــوړ یــم ، دسترخوان ټول کړه.

هـر څـوګ خپلـو ځـایونو تـه لاړل ، زه لـږ کېناسـتم ، بیـا یـو ځـل پـه ناروغـانو او کلینیـک وګرځېـدم ، لـه هغـه وروسـته مـې اودس او لمـونځ وکـړل ، خپلـې کـوټې تـه لاړم ، د هیلـې زنګ ته منتظر شوم.

څو دقیقې به وتلي وي ، چې کس راغی ، راته یې ووې: ډاکټر صاحب دې غواړي.

حیران شوم ، کس ته مې وویل: سمه ده ، درغلم.

لـه ځایـه راپورتـه شـوم ، زړه مـې درازېـده ، چـې هسـې نـه د هیلـې د موضـوع پـه اړه څـه راته ووایي.

سره ددې چې راباندې سخت فشار و ، د ډاکټر خونې ته ورغلم ، سلام مې وکړ.

ځـواب یـې راکـړ ، بیـا یـې راتـه ووې: الهامـه زه تـا داسـې بـولم ، لکـه د کـورنۍ غـړی ، د زړه درزا مـې بیخـي زیاتـه شـوه ، نـرۍ خوالـه رابانـدې راغلـه ، هغـه خبـره وغځولـه: زه

شايد څه موده کابل ته د ځينو کارونو لپاره لاړ شم ، زما پر ځای دلته تر هغه بل ډاکټر راځي ؛ نو په کلينيک به پام کوې ، هر څه تاته سپارم.

اوږده ساه مې واخيسته ، له ځان سره مې شکر ادا کړ ، بيا مې د هيلې پلار ته وويل: ما هم لکه خپل کلينيک دغه ځای داسې ګڼلی دی ، ان شاءالله ته دې بې غمه خپل کارونه وکړه ، زه همدلته يم.

مننه يې وکړه ، راته يې ووې: ممکن سبا لاړ شم ، ځکه مې ته اوس راوغوښتې ، نور خو خپل پوهېږې ، زما ويلو ته اړتيا نشته.

بيا مې ورته وويل: ته دې بې غمه خپل کارونه وکړه ، زه همدلته يم ، هېڅ چورت به نه خرابوې ، فکر وکړه ، چې ته دلته يې.

په مُسکا يې راغبرګه کړه: همداسې فکر کوم ، په تا لکه د ځان غوندې ډاډه يم او بيا يې زياته کړه: نور ورځه ، بس دې همدې لپاره مې راغوښتی وې.

سمه ده مې ووې او ترې راوواتم.

د هيلې زنګ ته بې صبره منتظر وم ، کېناستو خوند نه راکاوه ، له کلينيک څخه د باندې راووتم ، د سرک هغه غاړه مې د خلکو په ګڼه کوڼه سترګې ولګېدې ، زما هم تلوسه شوه ، نږدې ورغلم ، چې ګورم ، يو ښکلي ځوان په سپينو کاليو کې په وينو لت پت پرون دی ، تر څنګ ولاړ کس نه مې پوښتنه وکړه ، چې دا څوګ دی او ولې ؟

هغه وويل: زه له موټر ښکته شوم ، موټرسيکل سپارو په دغه کس چې په پښو روان و ، ډزې وکړې ، بېچاره په سر ولګېده ځای ، په ځای يې ساه ورکړه.

سخته خوا مې پرې بده شوه. د خلکو بيروبار لا نور زياتېده ، چې د پوليسو رېنجر موټر راورسېدل ، خلک يې خواره کړل ، لاره يې بنده کړه ، له نږدې دوکاندار څخه يې پوښتنې کولې ، زه بېرته کلينيک ته راغلم ؛ خو د ويشتل شوي ځوان څېره مې سترګو ، سترګو ته کېده ، کورنۍ مې يې په ذهن کې راتېره شوه. له ځان سره مې وويل: ددې وطن له کومې بدبختۍ به انسان سر وتکوي ، زه په همدې چورتونو کې وم ، چې نمبر ليکوونکي راباندې غږ وکړ: الهامه ، چې ډاکټر صاحب ته دې ويلي وای ، زه به نن لږ وختي لاړ شم.

ورته مې وویل: کومه خبره نه ده ، ورځۀ نن به پاتې خلکو ته زه نمبر ولیکم ، په دې کې نو کومه خبره ده.

سخت خوشال شو ، مننه یې وکړۀ ، په بېړه له کوټې ووت.

موبایل مې راواخیست ، چې ګورم څو دقیقې وړاندې هیلې دوه زنګونه وهلي دي ، له ځان سره مې ووې ، چې هلته په ګڼه کوڼه کې وم ، زنګ یې وهلی دی ، ځکه مې نه دي اورېدلي ، په بېړه مې زنګ ورته وکړ ؛ خو پورته یې نه کړ.

څو شېبې وروسته مې بیا وکاته ؛ مګر بیا یې هم ځواب رانه کړ. فکر مې وکړ ، چې شاید اوس به مصروفه وي ، نور مې نو پریښوده ؛ خو د پلار خبرو ته مې یې بیخي زیاته تلوسه وه ، چې څه به یې ویلي وي.

تر مزدیګزه څو ملګرو زنګونه راته وکړل ، ما به په دې نیت چې ګوندې هیله ده ، ډېر ژر موبایل راواخیسته ؛ خو هغه به نه وه.

له لمانځه وروسته چې کله خپلې کوټې ته راننواتم ، لا ناست نه وم ، چې د هیلې زنګ راغی.

له اوکې سره سم یې راته ووې: بیا مرور نه وې ، دوه زنګونه مې درته وکړل ، ځواب دې رانکړ ، وروسته تا راته زنګونه کړي وو ، هغه ستاسو ګوندۍ تروزرزۍ مې (نرسه) راغلې ده ، له هغې سره د مور په کوټه کې ناسته وم ، اوس د څنګ کوټې ته راغلم ، چې موبایل مې وکتلو ؛ نو زنګونه دې کړي وو.

ورته مې وویل: کومه خبره نه ده ، زما هغه وخت لږ کار و ، چې اوزګار شوم ؛ نو زنګ مې وکړ ، پورته دې نه کړ ، پوه شوم ، چې مصروف یې ، ما د پلار سره د مور غږېدو پوښتنه کوله ، چې هیلې ووې: الهاموو اوس مور غږ کوي ، ان شاءالله بېګاته زنګ درته کوم.

سمه ده مې وکړل او اړیکه مو قطع کړه.

اوس نو له مزدیګر څخه د شپې پورې وخت راته کال شو ، هېڅ تېرېده نه.

ماښام ته نږدې د هیلې پلار کور ته لاړ او ماته یې هم د تګ وویل. لږ وروسته زه هم کور ته پلی روان شوم.

په اسمان کې تورې وريځې خوارې وې ، لکه باران ته يې چې زړه وي ، نرى باد شروع شو ، کور ته نږدې مې کوچني ورور ته زنګ وکړ ، چې څه شى خو غواړې نه ؟

له مور يې پوښتنه وکړه ، بيا يې راته وويل: لږ مستې درسره راوړه.

سمه ده مې وکړل او له نږدې هټۍ (دوکان) څخه مې يو کيلو مستې راواخيستې او کور ته راغلم.

له ډوډۍ او چاى وروسته د څنګ کوټې ته لاړم ، د هيلې زنګ ته منتظر وم.

نه پوهېږم ، نن د نورو وختونو خلاف د خوب رابانـدې زور و ، په کټ کې اوږد وغځېدم ، په څو شېبو کې خوب وړى وم.

سهار چې مور رابانـدې لمونځ ته غږ وکړ ، فکر مې کاوه ، چې خوب وينم ؛ خو د پښې له لويې ګوتې يې وښورلم ؛ نو په بېړه په ځاى کې کېناستم.

مور مې راته ووې: هله زويه ، د لمر سترګه راخيږي ، لمونځ درنه قضاء نشي ، شيطان ته لغت ورکړه ، پورته کېږه.

سمه ده موري مې ووې ، له کټ راپورته شوم ، چې اودس مې وکړ ؛ نو هيله راياده شوه ، چې ماته خو يې د زنګ ويلي و ؛ مګر زه خو ترې ويده شوى وم.

ژر کټ ته لاړم ، بالښت مې پورته کړ موبايل نه وه ، چې کمپل مې وڅنډله ؛ نو ترې راوغورځېده ، سکرين ته مې يې وکتل ، زنګ يې نه وو راغلى.

موبايل مې بېرته کيښود او په لمانځه ودارېدم.

لمونځ چې مې وکړ ؛ نو مور راغږ کړ ، چاى تيار دى ، راځه.

جاينمار مې ټول کړ ، د مور دوى کوټې ته واوښتم.

چاى ته چې کېناستم ؛ نو د هيلې د پلار خبره راياده شوه ، چې راته ويلي يې و: زه سبا کابل ته ځم ، کلينيک باندې پام کوه.

ژر ، ژر مې چاى وڅښه ، د نور کله څخه لږ وختي کلينيک ته روان شوم ، چې له کور څخه راوواتم ؛ نو هيلې ته مې زنګ وکړ. له اوکې سره سم يې په خندا راته ووې: الهامووو هماغه ستا خبره شوه ، زه خو بېګا بيا درنه ورکه شوم ، ترورزى مې

(نرسې) شپه وه او بل مې بابا نن کابل ته ځي ، هغه ته مې تر ناوخته کالي اوتو کول.

ورته مې وویل: زما لېونۍ هېڅ خبره نه ده ، انسان خو هر وخت په یو حال نه وي ، بیا مې خبره وغځوله: هو ، بابا دې پرون ماته ویلي و ، چې زه سبا د ځینو کارونو لپاره کابل ته ځم.

هیلې ووې: داسې درته خپه وم ، ما ویل هسې نه مرور وې ، ته خو فقط بهانه غواړې.

په خندا مې ځواب ورکړ: ای ته هم ، زه نو کله مرور شوم یم ، چې اوس ته وایې!

وای ریښتیا هغه خو بل څوک دی ، یې ووې او بیا یې زیاته کړه: بخښنه غواړم ، زه غلطه شوم ، خدای خبر پام مې چېرته و ، نور له خندا شنه شوه.

ورته مې وویل: خاندهٔ ، خاندهٔ ، زه به دې هم خوښ شم.

هغې ووې: اوس ما څه ویلي دي ، ته خو مې نه ښودلې ، غلطه شوم ، نور یې څه یې ویل ، چې خبره مې یې پرېکړه: ته اوس دا کیسې پرېږدهٔ ، بابا دې ستا او زما په اړه څه وې ؟

لږ غلي وه ، بیا یې ځواب راکړ: الهامه ، نور له دې خبرې تېر شهٔ ، زه دغه څه موده ځان اخوا دېخوا کوم ؛ خو ته نه پوهېږې.

ټکان مې وخوړ ، لکه په نشه کې چې وم ، خبرې راڅخه ورکې شوم ، حیران دریان وم ، نه پوهېدم څه وکړم ، چې هیلې غږ کړ: اې ، څنګه غلی شوې ، زما خبره واورهٔ.

هغې څه ویل ، چې د پلار زنګ یې هم پرې راغی ، ورته مې وویل: ته صبر وکړهٔ ، چې بابا دې زنګ راوهي.

هیلې اړیکه پرې کړهٔ ، د پلار نمبر مې یې اوکې کړ: سلام یې وکړ او بیا یې پوښتنه وکړهٔ ، چې چېرته یې ؟

علیکم سلام مې وکړل او ورته مې وویل: بس نور کلینیک ته نږدې یم ، څه خبره وه ؟

ښه زه درته منتظر یم یې ووې ، نور یې اړیکه قطع کړهٔ.

زه هېڅ په ځان نه پوهېدم ، چې چېرته او د څه لپاره روان یم ، بیا مې هیلې ته زنګ ونه کړ ، کلینیک ته راغلم.

چېپټر مې پخپله کوټه کې کېښودل ، د هیلې پلار ته ورغلم.

هغه له معاینه خونې څخه بهر دواخانې ته لاړ و ، زه هملته ورغلم ، چې ویې لیدم ؛ نو راته یې ووې: زما ځای ته درځه ، دادی زه هم درغلم. بېرته یې معاینه خونې ته لاړم او له دروازې سره نږدې په چوکۍ کېناستم.

د هیلې خبرو مې په سر درد کړ ، بیخي له عادي حالت څخه وتلی وم. له ځان سره مې ویل: ښه ، هغې ځکه کله یوه او کله بله بهانه کوله ، چې پلار یې منفي ځواب ورکړی و.

زه په همدې چورتونو کې ډوب وم ، چې د هیلې پلار راننواته ، له ځای پورته شوم لاس مې ورکړ ، راته یې ووې: اوس لږ وروسته هغه بل ډاکټر درته راځي ، لکه د نورو ورځو خپل کارونه مخته وړئ ، نور خو له هر څه سره خپله بلد یې ، ان شاءالله زما کارونه هم دومره وخت نه نیسي ، بېرته ژر راځم.

ورته مې وویل: ته بې غمه خپل کارونه په ارامه سره وکړۀ ، دلته به هېڅ تشویش نه کوې.

سمه ده یې ووې ، د باندې راوواتو خدای پاماني مو وکړۀ ، هغه کابل ته روان شو ، زه خپلې کوټې ته لاړم.

هر څه راته ګډ وډ ښکاره کېدل ، فکر مې هېڅ پر ځای نه و.

هڅه مې وکړۀ ، چې د هیلې خبرې له ذهن څخه وباسم ؛ خو دومره نورې راته مخته ، مخته کېدې.

له ځایه پورته شوم ، د باندې په ناروغانو وګرځېدم ، بیا دواخانې ته لاړم ، داسې په ټول کلینیک راوګرځېدم ؛ مګر پام په بله نشو ، حالت مې شېبه ، په شېبه خرابېده ، د سر درد مې دومره شدید شو ، چې ما ویل پرک چوي.

څه د پاسه اووه بجې وې ، چې بل ډاکټر راغی ، ستړې مشي مې ورسره وکړۀ ، تر معاینه خونې ورسره لاړم ، دا چې ناروغان منتظر و ؛ نو ژر ترې راووتم ، ورته مې وویل: زه همدلته یم ، چې څه شی دې پکار کیږي یا کومه بله خبره وي ؛ نو راځم.

مننه يې وکړهٔ ، ترې روان شوم.

کلينيک د دواخانې شاته ونې لاندې مې راته چوکۍ کيښوده او کېناستم.

ښه شېبه شيطان رنګه رنګ خبرې راته کولې: همدا نن کار پريېردهٔ ، نور هېڅکله هيلې ته زنګ مه وهٔ ، حتی بيخي له وطن ځان ورک کړهٔ ، زه په همدې چوروتونو کې تللی وم ، چې د هيلې زنګ راغلی.

له اوکې سره سم يې ووې: ته خو پسې ورک شوې ، اوس مې پلار جان ته زنګ وکړ ، ويل يې وختي مې حرکت کړی دی.

ځواب مې ورکړ: نور نو څه دربانديې کوم ، چې زنګ درته وهم.

لږ غلي غوندې شوه ، بيا يې راته وويل: الهامه ، ته ښه يې ؟ څه شوي ، چې داسې خبرې کوې ؟

ورته مې ووې: نور نو څه وشي ، تاته مې چې نن اول زنګ وکړ ، څه دې راته وې ؟

په حيرانۍ يې زياته کړهٔ: زما خو ستا په خبرو هېڅ سر نه خلاصيږي ، ما څه درته ويل هننن ؟

ورته مې ووې: تا راته ونه وې ، چې زما او ستا په اړه مې د پلار ځواب منفي و.

له خندا شوهٔ ، بيا يې راته وويل: وه زما لېونيه الهامووو ، ما خو هغه ټوکې وکړې ، تاته بيا د بابا زنګ راغی ، اوس مې بيخي له ياده هم دغه خبره وتلې وه.

په ببړه مې ورته ووې: څه ، يعني ريښتيا نه دي ، تا ټوکې کولې ؟

هو ، والا هسې شوخي مې وکړهٔ ، يې ووې. نور يې څه ويل ، خبره مې يې پرېکړهٔ: په غوسه مې ورته وويل: هيلووو دا ټوکې دي ، په ما خو دې مرګ تېر کړ. د هغه راهيسې مې چې په سر درد دی ، مړ يې کړم.

ژر يې راته ووې: قربان دې شم ، بخښنه غواړم ، ما خو ټوکې کولې ، اغه مې د بابا زنګ درته راغی ، خبره په نيمايي کې پاتې شوه ، له ما څخه هېر شوي هم وه ، بيا يې خبره وغځوله: زه ملامته يم ، چې هر څه دې زړه غواړي راته يې ووايهٔ ، ښه راته غوسه شهٔ ، توبه مې ده ، دادی غوږونه نيسم.

زړه مې پرې وسوځېده ، په خندا مې ورته ووې: زما شکلې لېونۍ ستا داسې ټوکې دي ، اوس غوړونه مه نیسه ، بس زه دې ځوربدلی یم ؛ خو چې ریښتیا نه وي ، ما نور څه ویل ، خبره یې راپرې کړه: الهامه ، ته خپه یې ، زه بخښنه غواړم ، ما دې خدای مړه کړي ، چې داسې ټوکې مې کولې.

لږ مې ځان غوسه کړ: هیلووو ، په هغه خبرو نه یم خپه ؛ خو چې داسې کوې ، په ریښتیا جنګ درسره کوم ، خبره وه خلاصه شوه.

په بېړه یې راته ووې: ښه سمه ده ، بس جنګ نه کوو.

ما څه ویل ، چې د کلینیک نمبر لیکوونکی راغی او راته یې ووې: ډاکټر صاحب دې غواړي.

هیلې ته مې وویل: زه لږ وروسته زنګ درته کوم ، ډاکټر مې غواړي ، چې څه وایي.

سمه ده یې وکړل او اړیکه مو پرېکړه.

موبایل مې کوټه کې چارج ته کېښوده او زه نوي راغلي ډاکټر ته ورغلم.

سلام مې وکړ. علیکم سلام یې ووې او بیا یې زیاته کړه: برق کله قطع شي ، کله وصل ، چې څه غم دې یې خوړلی وای.

سمه ده ، همدا اوس یې ګورم مې ووې او ترې راوواتم.

د برق په کارونو کې دواخانې والا سم بلد و ، هغه ته مې ووې ، ته وګوره ، ستونزه چېرته ده.

ژر ، ژر معاینې خونې ته په راغلو تارونو کې لګیا شو ، لږ وروسته یې راته ووې ، چې یو مزی سست شوی وو ، ان شاءالله جوړ شو. مننه مې ترې وکړه ، ډاکټر ته مې ووې ، چې سم شو او نور بېرته خپلې کوټې ته لاړم.

هیلې ته مې زنګ وکړ ، له څو ثانیو وروسته یې پورته کړ ، راته یې وویل: څه خبره وه ، چې دومره ضرور یې پکار وې ؟

د برق کیسه مې ورته وکړه ، راته یې ووې: دا خو تکړه یې ، چې برقونه هم جوړولی شې. په خندا مې ځواب ورکړ: زه سخت ترې وېرېږم ، په بل کس مې جوړ کړ.

هغې هم وخندل او بیا یې ووې: اې ، ته پوهنتون ته نه ځې ؟ ماته نور موټر راځي ، ناوخت دی.

ساعت ته مې وکتل ، څه کم اته بجې وې ، ورته مې وویل: نن دې کلینیک کې بابا هم نشته ، بل ناوخت دی ، زه نور یې خبره راپرې کړه: بس بهانې مه کوه ، لنډ ووایه ، چې زړه مې نه کیږي نه ځم.

ومې خندل ورته مې ووې: هو ، نن نه ځم ؛ خو د بابا خبره دې تر اوسه ګونګه پرېښې ده ، چې څه یې ویل ؟

په خندا یې ځواب راکړ: شرمېږې هم نه ، هغه پوښتنه ځنګه کوې او بیا یې زیاته کړه: پرېږده زما او ستا میندې به یې مخته وړي. زه او ته کار پرې نه لرو.

ورته مې وویل: سمه ده ، بس نور یې زه هېڅ پوښتنه نه کوم ، چې ته یې هم یاده نه کړې. ویې خندل او بیا یې ووې: زه یې په زور یادوم. ما څه ویل غوښتل ، چې هغې زیاته کړه: ماته د باندې موټر هارنونه کوي ، اوس خوړ وخت ولړې ، بیا غږېږو.

سمه ده ، پخیر لاړې شې مې ورته ووې او اړیکه مو پرې کړه.

ټول خپګان مې ختم شو ، له ځان سره مې ویل: هیلووو خو سمه لېونۍ ده ، داسې ټوکې وي ، په ما یې څومره تکلیف تېر کړ ، بیا مې ووې: خدای شکر ، دغه خپګان دې وي ؛ خو چې ریښتیا نه وه.

اوس نو خوشال وم ، هر څه راته خوښ ښکاره کېدل.

له هر چا سره په ورین تندي مخ کېدم.

تر غرمې پورې د هیلې پلار څو وارې زنګ وکړ ، پوښتنه یې کوله ، چې څه ستونزه خو به نه وي ؟

ورته به مې ویل ، چې هر څه سم دي ، هېڅ تشویش مه کړه.

مزدیګر ته نږدې سلیم راتګ زنګ وکړ ، چې زه هم ښار کې یم ، نن کلي ته ځو.

د خپګان زړه مې پرې نه کېده ، ورته مې ووې: سمه ده ؛ خو لږ ناوخت ، ځکه ډاکټر کابل ته تللی دی او هر څه یې ماته راسپارلي دي. سمه ده ، زه منتظر یم یې ووې او خدای په اماني مو وکړه.

د نورو ورځو په پرتله نن ناروغان کم وو ، په وخت سره ختم شول ، نوی راغلی ډاکتر ماښام ته نږدې له معاینه خونې راووت او ماته یې وویل: نور خو ناروغان ختم شول ، زما یو څه کار هم دی ځم ، سبا به بیا له خیره سره وینو.

مننه مې ترې وکړه ، تر موټر ورسره لاړم ، هغه مې رخصت کړ. زه خپلې کوټې ته لاړم.

سلیم ، ته مې زنګ وکړ ، چې چېرته یې ؟

ځواب یې راکړ: کلي ته د تلوونکو موټرو اډې سره یم.

ورته مې وویل: بس زه هم در روانېږم ، همدلته اوسه. ښه یې وکړل ، اړیکه مو پرېکړه. بیا مې کور ته زنګ ووهه ، چې کلي ته لاړم.

یو ځل په کلینیک کې راوګرځېدم ، چې کومه ستونزه نه وي او نور د سلیم خواته روان شوم.

هغه ته په ورسېدو ، له سترې مشې سره سمدستي په موټر کې کېناستو او کلي ته مو حرکت وکړ.

د ماښام لمونځونه مو په لاره کې یو جومات کې وکړل.

ناوخته کلي ته ورسیدو.

د سلیم دوی خجرې ته چې راغلو ، ورته مې وویل: نن سخت ستړی یم ، اول د چای غم وکړه.

په خندا یې ووې: مېلمه یې ، په خوله یې مه غواړه او نور له خجرې ووت.

لږ وروسته سلیم د چای له پتنوس سره راغی او تر څنګ مې کېناست ، یوه پیاله یې ځان او بله ماته ډکه کړه.

تر ډېره مو د کلي او ښار کیسې سره وکړې. تقریباً اته بجې به وې ، چې سلیم له ځایه پورته شو او ماته یې ووې: زه خو وږی یم ، ناوخت دی ، د ډوډۍ غم به وخورم..

ورته مې ووې: هو ، نور دې له لوږې مړ کړم ، زر کوه.

په تلو ، تلو کې یې په خندل وویل: مکسد ته له ما ډېر وږی یې او لاړ.

موبایـل مـې راواخیسـت او فسـبوک تـه ننـواتم ، لـږ پکـې ښـکته پورتـه شـوم ، چـې د هیلـې زنـګ راغـی ، لـه لـومړۍ ټـالۍ سـره مې اوکـې کـړ. سـلام یـې وکـړ. ځـواب مـې ورکـړ ، ورته مې وویل: هیلووو زه کلي ته راغلی یم.

اوهـووو یـې وکـړل او بیـا یـې راتـه ووې: ماتـه خـو دې بیخـي څـه ویلـي نـه دي ، چـې کلـي ته ځم. د سلیم د یو ناڅاپه زنګ کیسه مې ورته وکړه.

هغې ووې: الهامووو ، ته پوهېږې ، پلار مې مور ته څه ویلي وو ؟

دې خبـرې سـره سـم سـلیم دسـترخوان پـه لاس کـې راننـوت. هیلـې تـه مـې ویـل: مـوږ ډوډۍ خورو بیا زنګ درته کوم.

سـلیم دسـترخوان ماتـه راکـړ ، چـې دا هـواره کـړه ، زه بـه نـور شـیان راوباسـم ، همداسـې مې وکړل. هغه بېرته له ډک پتنوس سره راغی.

ناست ډوډۍ ته وم ؛ خو فکر مې د هیلې له پاتې خبرو سره وو.

کلـه مـو چـې ډوډۍ وخـوړه ؛ نـو سـلیم تـه مـې ویـل: شـیان کـور تـه یوسـه ، نـور بـه یـو ځل هټۍ (دوکان) ته لاړ شو.

په همدې چل مې هیلې ته زنګ کولو.

هغـه لـه ځـای پورتـه شـو او پـه خنـدا یـې ووې: لـه ډوډۍ وروسـته د شـیانو ټولـول او بیـا کور ته وړل دومره سخت وي.

ورته مې وویل: بس ، چې زوی دې لوی شي ، له دې هر څه به خلاص شې.

هـو یـې وکـړل ، دسـترخوان یـې پـه تخـرګ کـې ونیـو او پتنـوس پـه لاس لـه خجـرې ووت. په بېړه مې موبایل راواخیست او هیلې ته مې زنګ وکړ.

لـه څـو ټـالیو وروسـته یـې اوکـې کـړ. سـلام مـې وکـړ ، بیـا مـې ورتـه وویـل: هیلـووو سـلیم کور ته شیان یووړل زما ستا د پلار خبرو ته تلوسه وه ، ژر راته وایه ، څه یې ویل.

د سـلام ځـواب یـې راکـړ او زیاتـه یـې کـړه: بابـا مـې مـور تـه ویلـې و ، دغـه د هیلـې خپـل حـق دی ، چـې د هغـې خوښـه وي ؛ نـو زه هـېڅ نـه وایـم او نـه زه ددې حـق لـرم ، چـې د لور ژوند د انتخاب په برخه کې مداخله وکړم.

لومړیتوب هیلې ته ورکوو ، چې خپله د ژوند ملګرې ځان ته خوښ کړي ، ځکه دا دې هغې د تمام عمر مساله ده.

له خوشالۍ ځمکې ځای نه راکاوۀ ، نه پوهېدم اوس څه وکړم.

بیخي مې دا له یاده وتلي و ، چې زه بل ځای کې یم ، سلیم به راشي.

په خندا مې ورته وویل: هیلووو ، لکه چې خدای مو دعاګانې قبولې کړې ، دا ځنګه حالت دی ، خوب وینم ، که ریښتیا ده ؟

هغه هم خوښه ښکاره کېده ، په ځواب کې یې راته ووې: زما لېونیه الهامووو ، دا هر څه ریښتیا دي ، که خدای کول ؛ نو زه او ته به یو بل ته راسېږو.

سلیم غږ راوکړ ، چې راوځۀ ، دوکان ته ځو ، بیا ناوخته بندیږي.

هیلې ته مې ووې: مور دوکان ته ځو ، زېرې دې راباندې شو ، اوس ښکلې شپه ولرې.

سترګې دې ښکلوم یې ووې ، بیا یې زیاته کړۀ: ځان ته پام کوۀ ، نور د ځان غوندې ښکلې شپه ولرې.

اړیکه مو پرېکړۀ. سلیم بل غږ هم وکړ: څه شوې ، راوځې ، که زه هم درشم.

ورته مې وویل: غوسه مه کوۀ ، دادی درغلم..له ځای پورته شوم او د باندې ورغلم. هغه د موبایل ګروپ لګولی و ، دواړه دوکان ته روان شوو.

نېږدې دوکان بند و ، د سرک غاړې دوکان ته لاړو. شیان مو راواخیستل ، بېرته خجرې ته راغلو.

تر ناوخته زه او سلیم ناست وو او کیسې مو کولې ، چې هغه ووې: سبا به پوهنتون ته هم ځو او ته به بیا کلینیک ته ځې ، ویده به شو ؟

ورته مې وویل: هو ، ویده کېږو.

ځایونه مو تیار کړل. سلیم ګروپ بند کړ او کمپله مې په سر راکش کړۀ.

له خوښۍ مې خوب تښتېدلی و ، شکرونه مې ادا کول.

له ځان سره مې ویل: خدای څومره لوی مهربان دی ، ان شاءالله هیله به زما کیږي.

نه پوهېږم ، د شپې څو بجې خوب وړی وم ،

سهار کې مې لـه لمانځـه وروسـته سـليم تـه ووې: زه وختـي ځـم ، ځکـه ډاکټـر صـاحب کابل ته تللی دی ، پر ځای يې تر هغه يو نوی کس راځي ، زه بايد هلته وم.

سمه ده يې وکړل او بيا يې وويل: زه په بېړه چای راتياروم.

ورتـه مـې ووې: نـه ، څـه پـرادی ځـای خـو نـه دی ، بيـا مـې خپلـه درتـه ويـل ، بـس چـې وختي ځان ورسوم ، دا هر څه دي.

ډېـر ټينګـار يـې وکـړ ؛ مګـر ورسـره ومـې نـه منلـه. رخصـت مـې تـرې واخيسـت ، ښـار تـه روان شوم.

شپږ نيمې بجې کلينيک ته ورسېدم.

ډاکټـر چـې راغـی ؛ نـو د پوهنتـون تـګ مـې ورتـه ووې ، شـمېره مـې ورکـړه او تـرې راوواتم.

د نورو ورځو خلاف نن د هيلې بېګانيو خبرو ته ډېر خوښ وم.

لـه ځـان سـره مـې ويـل: بـس نـور هيلـه زمـا ده ، څـومره خونـد بـه کـوي ، چـې هغـه ډاکټره شي او زه حقوق ولولم ، يو ځای وو.

تر پوهنتون په لاره هېڅ پوه شوی نه يم ، چې څنګه راغلم.

لکـه پـه څېـره کـې مـې چـې لـه ورايـه خوښـي ښـکاره کېـده ، ټولګيوالـو راتـه ووې: الهامـه ، خير خو دی ، نن داسې خوشاله معلومېږې ؟

په خندا مې ځواب ورکړ: زه خو هر وخت داسې يم ؛ خو ستاسو راته پام نه وي.

تر درس شروع کېدو مو زياتې ټوکې ټکالې وکړې.

بيا چې درسي ساعت پيل شو ؛ نو ټول ارام خپل استاد ته متواجې وو.

له تقسيم اوقات سره سم مو درسونه ولوستل او غرمه رخصت شو.

هـره ورځ درسـونه او کلينيـک تـه تـګ و ، وختونـه تېرېـدل ، د هيلـې پـلار بېرتـه لـه کابل څخه راغی.

هوا هم په ګرمېدو وه ؛ خو د خدای فضل و ، بارانونه به کېدل.

ما او هیلې به زنګونه سره کول ، د درسونو او کارونو په اړه به غږېدو ، ځینې وخت به مو چې موقع پیدا کړه ؛ نو سره وبه مو لیدل.

د ژوند بېړۍ روانه وه او مونږ پکې سپاره وو. یو مزدیګر ناوخته چې نور د هیلې پلار کور ته روانېدو زه ور وغوښتلم. معاینه خونې ته ورغلم ، سلام مې وکړ. ځواب یې راکړ ، بیا یې د خپل موبایل سکرین زما په طرف ونیوه ، یوه شمېره یې راته وښوده ، چې دا پېژنې ؟

ورته مې وویل: نه ډاکټر صاحب ، ولې ؟

ځواب یې راکړ: هسې ، زنګ یې راته کړی و ، ما ونه پېژنده ، ما ویل شاید ته یې وپېژنې.

نه زه یې هم نه پېژنم مې ووې.

له ځایه راپورته شو او ماته یې ووې: ناوخت دی ، نور به کورونو ته لاړ شو. سمه ده مې وکړل او دواړه له معاینه خانې راوواتو.

رخصت مو سره واخیست ، هغه د خپل موټر په طرف او زه د کوټې لور ته روان شوم ، چې د موټر دروازه یې خلاصه کړه ، ماته یې غږ کړ: دلته راشه. په بېړه یې خواته ورغلم. هماغه لبر وړاندې د موبایل شمېره یې راته وښودهٔ ، چې درسره ولیکهٔ. قلم مې راواخیست شمېره مې ولیکله ؛ خو اندېښنه مې شوه ، ورته مې وویل: ډاکټر صاحب خیرت دی ، دغه نمبر د چا دی ؟

په موټر کې کېناست ، بیا یې ځواب راکړ: نه پوهېږم کوم ارام زاده دی ، زنګ یې راته کړی و ، ویل یې: ځان دې ساتهٔ ، ژوند راڅخه نشې کولای.

حیران شوم ، په ځای لکه مېخ ولاړ وم ، بیا ورته مې ووې: دومره مه ځهٔ ، یو ځل به له استخباراتو سره ددې موضوع په اړه وغږېږو ، خدای مه کړهٔ ، چې کومه ستونزه جوړه نشي.

اوس ناوخت دی ، سبا به ورسره په جریان کې شو یې ووې او موټر یې روان کړ.

هک حیران وم ، چې دا به اوس چا زنګ ورته کړي وي او هدف یې څه دی ؟

کوټې ته لاړم ، شیان مې راواخیستل او زه هم کور ته روان شوم.

سخته اندېښنه مې وه ، په نيمه يې لاره کې مې د هيلې په پلار پسې زنګ وکړ ، چې پوښتنه يې وکړم ، مګر ځواب يې نه کړ. لږ وروسته مې بيا ورته وکاته ؛ خو بې فايدې و. شېبه ، په شېبه مې تلوسه زياتېده ، نه پوهېدم چې اوس څه وکړم.

هيلې ته مې هم زنګ نشو وهلی ، ځکه که پلار يې کور ته تللی نه وای ؛ نو په لوی لاس به مې لانجه جوړه کړې وه ، د هغوی به هم اندېښنه شوه وه.

تر کوره يې مې څو ځله زنګ وکړ ؛ خو بې ځوابه.

له سختې اندېښنې سره کور ته ننواتم.

د هيلې پلار ته مې بيخي چورت خراب و. له ځان سره مې ويل: خدای دې وکړي ، چې خير او خيرت وي.

د ماښام لمانځه چې مې وکړ ؛ نو د باندې دوکانونو ته راوواتم.

لږه شېبه به ناست نه وم ، چې د ډاکټر صيب زنګ راغی ، په بېړه مې اوکې کړ: سلام يې وکړ او بيا يې راته ووې: الهامه ، وبخښنه موبايل سيلېنټ رانه پاتې و ، څو زنګونه دې وهلي و ، خير دی ؟

ورته مې ووې: شکر دی ، بيخي خير او خيرت دی ، ستا په اړه مې اندېښنه وه ، پوښتنه مې کوله ، چې کور ته ورسېدې او کنه.

هېڅ خبره نشته ، پخير راغلم يې ووې او بيا يې زياته کړه: مېلمانه راغلي دي ، زه له هغوی سره يم ، ان شاءالله سبا غږېږو.

سمه ده مې ووې او اړيکه مو پرېکړه.

زيات خوشاله شوم ، شکر مې ادا کړ ، چې د هيلې په پلار څه شوي نه دي ؛ مګر هغه نمبر او زنګ ته په زړه کې نيولی وم.

تر ناوخته هملته په دوکان کې ناست وم ، چې د کوچني ورور زنګ راغی او راته يې ووې: چېرته يې ؟ ډوډۍ تياره ده ، تاته منتظر يو. په بېړه له ځای پورته شوم ، ځواب مې ورکړ ، همدلته د باندې يم ، دادی درغلم.

کور ته چې راغلم ، مور مې لږ راته غوسه وه ، چې دغه حالات وګوره ، دومره تر ناوخته د باندې څه کوې ؟

ورته مې وويل: مورکې ، له ملګرو سره ناست وم ، ډېر وخت مې نه وو ، ليدلي.

وختي کور ته راځۀ يې ووې ، دسترخوان مو هوار کړ او ډوډۍ ته کېناستو.

لـه ډوډۍ وروسـته مـې مـور ماتـه مـخ را واړوۀ او راتـه يـې وويـل: الهامـه زويـه ، سـبا چـې کلـي تـه تللـي وای ، خپـل پـرادی بـه مـو ليـدلی وای ، دلتـه خـو لکـه بنـدي پـه کـور کـې ناسته وم ، زړه مې انګ دی.

پـه خنـدا مـې ځـواب ورکـړ: مـورکې ، دلتـه ښـار دی ، چـې زړه دې خپـه کيـږي ؛ نـو پـه مارکېټونو او پارکونو ګرځۀ ، ساعت به دې تېرېږي.

ويـې خنـدل او بيـا يـې راتـه ووې: هغـه چـې تاتـه ښـځه وکـړو ، راسـره بـه ګرځـي ، ځکـه زه خو يوازې نه ګرځېدای شم او نه بلده يم.

مشـر ورور مـو پـه خبـرو کې راولوېـده ، مـور تـه يـې وويـل: ښـه درتـه وايـي ، چـې زړه دې خپـه کيـږي ، تـا ځـوګ پېژنـي ، خپـل چکرونـه وهـۀ. مـوږ ټولـو وخنـدل ، بيـا مـې کـوچني ورور تـه مـخ ور واړوۀ ، ورتـه مـې ووې: سبا تـه او مورکـه کلـي تـه لاړ شـئ ، مـوږ خـو نـه يـو اوزګار ، فکر به مو هم بدل شي ، خپلوان به هم ووينئ.

سـمه ده يـې وکـړل او بيـا يـې راتـه وويـل: زمـا سـره خـو يـوه روپـۍ هـم نشـته ، چې کرايـه وکړو او څه راسره يوسو.

مشـر ورور تـه مـې وکتـل ، ورتـه مـې ووې: مشـري خـو هسـې نـه کيـږي ، تـه ورکـړۀ لـږ پيسې چې سبا دوی کلي ته لاړ شئ.

پـه خنـدا يـې ځـواب راکـړ: يـاره ، زه بيخي مشـر نـه يـم ، تاسـو يئ ؛ خـو دغـه پيسـې مـه غواړئ.

اخېر زه مجبور شوم ، پيسې مې ورکړې.

نر ناوخته ناست وو ، کيسې مو کولې.

مور چې مې لمونځ وکړ ، موږ ته يې ووې: زه ويده کېږم ، خوب راغلی.

ورته مو وويل: سمه ده ، موږ هم لمونځونه کوو ، ناوخت دی ، نور ويده کېږو.

مـور مـو کـټ تـه پورتـه شـوۀ او څملسـته. کـوچني ورور مـې چاينـک پيـالې ټـول کـړل او زه د څنګ کوټې ته را واوښتم.

لمونځ چې مې وکړ ، سترګې رابانـدې درنـدې وې ، کټ تـه پورتـه شـوم ، پـه څـو دقيقـو کې خوب وړی وم.

سهار د معمول پـه څېـر لـه چـای څښـلو وروسـته د کلينيـک پـه لـور روان شـوم. پـه لاره کې مې د هيلې پلار په اړه فکر کاوۀ ، چې هغه شمېرې به بيا ورته زنګ نه وي کړی.

په همدې چورتونو کې کلينيک ته ورسېدم ؛ خو ډاکټر صيب لا نه و راغلی.

لږ وروسته چې زه دواخانې والا سره ناست وم ، د هيلې پلار هم راغی.

سترې مشي مې ورسره وکړل ، چې معاينـه خـونې تـه ننواتـۀ ، راتـه يـې وويـل: الهامـه ، ته دلته راشۀ. زه هم ورغلم.

هغه په خپله چوکۍ کېناست او زه مخامخ ورته په بله چوکۍ.

لـومړۍ يــې پوښــتنه وکــړۀ ، چــې شــپه پخيــر تېــره شــوه او بيــا يــې د شــمېرې خبــره راواخيسـته: بيـا يـې زنـګ راتـه نـه دی کـړی ؛ خـو بايـد غـم يـې وخـوړل شـي ، چـې څـوک دی.

ورتــه مــې ووې: ډاکتــر صــيب ، د امنيــت پــه رياســت کــې زمــا يــو ملګــری شــته ، زه بــه زنــګ ورتــه وکــړم او جريــان بــه ورســره شــريک کــړم ، ان شــاءالله هغــه يــې معلومــولی شي.

لـږ غلـی وه ، بيـا يـې زياتـه کـړۀ: دا خـو لا ښـه خبـره ده ، چـې پېژنګلـي کـس هلتـه وي ، تـه زنـګ ورسـره وکـړۀ ، فقـط چـې دومـره وکـړي ، دغـه کـس رامعلـوم کـړي ، نـور مشـکله نه ده.

ورتـه مې وويـل: تـه بې غمـه اوسـۀ ، همـدا اوس زنـګ ورتـه کـوم ، هغـه خپـل سـړی دی ، زه يې په هر څه پوهوم.

سمه ده يې ووې ، زه ترې راوواتم.

خپلـې کـوټې تـه راغلـم ، ملګـري تـه مې زنـګ وکـړ ، لـه حـال ، احـوال پوښـتلو وروسـته مې ورته ټوله کيسه وکړۀ او شمېره مې ورکړۀ.

هغـه وويـل: بـس نـور يـې زه پـه چـاره پـوهېږم ، تاسـو بـې غمـه اوسـئ ، بيـا بـه پـه ټـول عمر هم زنګ ورته ونه وهي.

مننه مې ترې وکړۀ ، ورته مې ووې: بیا ماته یو زنګ وکړۀ ، چې څه دې وکړل.

سمه ده یې ووې او خدای په اماني مو وکړۀ.

بېرته ډاکټر ته ورغلم ، ورته مې وویل: بس ملګري سره مې زنګ کړی ، راته یې ووې ، چې تاسو نور بې غمه شئ ، زه یې غم خورم.

ډاکټر صیب هم خوشاله شوو ، مننه یې وکړۀ ، نور ترې راوواتم ، چېټر مې واخیستل پوهنتون ته روان شوم.

نن ورځ هم لکه د نورو تر ماښامه پخپلو کارونو کې مصروف وم ، چې کور ته راغلم ؛ نو مور او کوچنی ورور مې کلي ته لاړ وو.

مشر ورور مې لا نه و راغلی ؛ خو لږ وروسته یې راته زنګ وکړ ، چې زه له ملګرو سره پاتې یم نشم درتلای.

اوس نو په کور کې یوازې زه وم.

ډوډۍ مې وکتله سهارنۍ هغه په دسترخوان کې پاتې وه ، هکۍ مې راته پخې کړې او ځان مې موړ کړ.

شیان مې ټولول چې دروازه وټکېدۀ ، په بېړه ورغلم ، د ګاونډیانو ماشوم پتنوس په لاس دروازې ته ولاړ و.

په خندا مې ورته ووې: ګلابه ، ما خو ډوډۍ وخوړۀ ؛ مګر هغه ټینګار کاوۀ ، شیان ترې واخیستل او لاړ.

له ځان سره مې وویل: شاید چې مورکه تله ؛ نو هغوی به یې خبر کړي وي ، ځکه یې ډوډۍ راوړۀ.

پتنوس مې د کټ لاندې کېښود او کړکۍ ته نږدې په توشک کېناستم.

د هیلې په اړه مې سوچ کاوۀ ، چې له پرون راهیسې ورسره نه یم غږېدلی ، موبایل ته مې زنګ راغی. سکرین ته مې وکتل د نرسې شمېره وه.

خبرو ته مې زړه نه کېده او بل مې نه غوښتل ، چې ورسره وغږېږم ، ځواب مې ور نکړ.

هېڅ نه پوهېدم ، څه ډول یې پوهه کړم ، چې نه غواړم اړیکه درسره وپالم.

څو شېبې به نه وې وتلي ، چې بیا یې زنګ وکړ. زړه نا زړه مې موبایل پورته کړ.

سلام یې وکړ. ځواب مې ورته کړ او ورته مې وویل: وبخښئ ، له بل ځا سره مصروف وم ، اول زنګ مې ځکه پورته نه کړ.

هغې ووې: کومه خبره نه ده.

مغروره ، ته ماته معلوم یې ، هر وخت دې لومړی زنګ نه دی پورته کړی.

په خندا مې ورته ووې: استغفرالله ، کله مې نه دی پورته کړی ، ما نور څه ویل ، چې هغې مې خبره ونیوه: بس ، بهانې دې ډېرې ښې زده دي ، څوک دې پر کولای نشي.

ورته مې وویل: بس ته یې مه منئ.

خبره یې بدله کړه: ښه څنګه یې ؟ مور دې لکه چې کلي ته تللې ده ؟ سهار یې زما مور ته ویلي و.

ښه یمه مې ووې او بیا مې زیاته کړه: هو ، د مور مې دلته زړه تنګ وه ، بل کلي ته دغه ډېر وخت نه وه تللې.

هغې بیا پوښتنه وکړه: دا به په کور کې نو یوازې وئ ؟

په دروغو مې ورته وویل: هو ، زه او مشر ورور یوازې یو او خبره مې وغځوله: ډوډۍ مو هسې رالیږله ، دلته هر څه وو.

هغې ووې: غلی شه ، دادې هم خپل کور دی ، چې مورکۍ نه وي ؛ نو مور خو یو ، هېڅ شي ته به نه خپه کېږې.

مننه مې ترې وکړه ، ما څه ویل غوښتل ، چې هغه راوړاندې شوه: ډېر کله وایم ، چې ته زنګ نه کوې ؛ نو زه به یې هم نه درته کوم ، مګر ونشي.

په خندا مې ورته ووې: دا ته څه رقم خبرې کوې ، له ما خو خبره یې ، چې ټوله ورځ مصروف وم ، د شپې ناوخت راشم ، ایله دومره وکړم ، چې کټ ته ځان ورسوم.

ښه یې وکړل او بیا راته وویل: زه درپسې نه ګورم ، چې ته هر څنګه یې.

ما غوښتل ، چې خبرې را لنډې کړم ؛ خو هغې خبرې اوږدولې ، مګر ښه وه ، مور ورته غږ کړ ، اړیکه مو پرې کړۀ.

حیران دریان وم ، چې اوس څه ډول له دې ښځه ځان خلاص کړم ، ځکه وېرېدم ، چې یوه ورځ حتماً هیله خبرېږي ، بیا به لویه لانجه جوړه شي ، هغه یې داسې کله مني ، وایي به ، چې ستا ورسره خوښه ده.

ښنګ ته د اوبو له ایښې جېک ښځه مې ګیلاس ډک کړ او ومې ښښلې ، بیا له ځای پورته شوم ، لومړۍ مې د کور لویه دروازه او ورپسې د کوټې هغه بنده کړۀ.

غوښتل مې چې هیلې ته زنګ وکړم ؛ خو چې مې ساعت ته وکتل ؛ نو له ځان سره مې ووې ، چې اوس لا وختي دی ، له مور دوی سره به ناسته وي ، لږ ناوخت به زنګ ورته وکړم.

بالښت مې تکیه وکړۀ ، موبایل مې راواخیست فسبوک مې خلاص کړ ، چې وټساپ ته مسېجونه راغلل ، ومې کتل. د هیلې مسېج هم پکې و ، لیکلي یې و: الهاموو ، سلامونه تمه ده ، راته ښه به وې. یاد شوی مې یې ، دغه دوه شپې او ورځې شفاخانه کې نوکري یم ، هېڅ وخت مې پیدا نه کړ ، چې زنګ درته وکړم ، سبا ان شاءالله سره غږېږو.

ما هم ځوابي مسېج ورولیږۀ ؛ مګر هغه افلاین (وټساپ بند) وه.

نور نو ناستې خوند رانکړ ، لمونځ مې وکړ ، موبایل مې د سهار لپاره راته برابر کړ او په کټ کې اوږد وغځېدم.

څو شېبې وروسته د باندې کړاپه شوه ، کمپل مې په سر راکش کړۀ ؛ خو یو ځل د پېریانو فکر راسره ملګری شو.

اوس نه خوب راته او نه مې سر ښکاره کولی شوه ، په خوالو کې ډوب وم ، یو خدای خبر دی ، تر هغه چې ویده کېدم ، څه ډول ډار راباندې تېر شوی.

سهار چې موبایل وشرنګېده ؛ نو بېګانۍ وېره راسره وه ، لومړۍ مې غلی سر له کمپل جوت کړ او بیا پورته شوم ، لمونځ چې مې وکړ ؛ نو په انګړ کې مې لږ قدم ووهۀ ، څو دقیقې وروسته لمر خرګ ووهۀ ، د دیوالو په سرونو لمر ولګېده.

چـای مـې لـه وسـه نـه کېـدهٔ ، چـې ځـان تـه مـې کـړی وای ، څـه کـم اووه بجـې وې ، لـه کور څخه د کلینیک په طرف روان شوم.

هلتـه د خاضـرۍ امضـاء کولـو وروسـته پوهنتـون تـه لاړم ، دا چـې درس شـروع کېـدو تـه څو دقیقې پاتې وې ؛ نو له ځینو ملګرو سره د ټولګي مخته چمن کې کېناستم.

کلـه چـې پوهنتـون شـروع شـو ، پـه دوهـم سـاعت کـې راتـه د امنیـت ریاسـت والا ملګـري زنـګ وکـړ ، د بانـدې ورتـه راوواتـم. ویـل یـې چـې هغـه نمبـر پسـې مـې زنـګ وکـړ ، بخښـنه یـې وغوښـته ، بیـا بـه داسـې کـار نـه کـوي ، نـور چـې مخـامخ شـو ټولـه کیسه درته کوم.

مننه مې ترې وکړهٔ ، بېرته ټولګي ته راغلم.

نـن درس تـه ښـه پـه شـوق ناسـت وم ، لـه رخصـتۍ وروسـته سـیده کلینیـک تـه لاړم او د هیلـې پـلار تـه مـې د ملګـري د زنـګ کیسـه وکـړهٔ. هغـه هـم خوشـال شـو ، ځـانګړې مننه یې وکړهٔ ، راته یې وویل: دغه کس یوه ورځ راوغواړهٔ ، چې سره معرفي شو.

ورتـه مـې ووې: سـمه ده ، حتمـاً یـوه ورځ یـې را غـواړم. هغـه نـور پـه ناروغـانو کتلـو اختـه شو او زه خپلې کوټې ته راغلم.

ورځ تېره شوم ، ماښام چې کور ته راغم ؛ نو مور دوی هم راغلي وو.

سترې مشي مې ورسره وکړل ، تر څنګ یې کېناستم.

څـو دقیقـې بـه نـه وې وتلـي ، چـې یـوه ملګـري مـې زنـګ وکـړ: پوښـتنه یـې وکـړهٔ ، چـې چېرته یې ؟ ورته مې وویل: کور کې یم ، ولې خیرت دی ؟

هـو خیـرت دی یـې ووې او بیـا یـې زیاتـه کـړهٔ: تـه د بانـدې کـوځې تـه راووځـهٔ ، ځینـې ملګري لـه کابـل را روان دي ، تـر هغـه بـه هغـوی هـم راورسـیږي ، نـن بـه زمـوږ پـه ځـای کې کیسې وکړو.

مجبور وم ، اوس مې بله بهانه هم نشوه کولای ، سمه ده مې وکړل.

لـه ځـان سـره مې وویـل کـه مـور تـه ووایـم ، چې لـه ملګـري سره ځـم ؛ نـو نـه مې پرېږدي ، پـه دروغـو مـې ورتـه ووې ، چـې ډاکتـر و ، ویـل یـې کلینیـک تـه راشـهٔ ، ناروغـان راځـي ، ته راسره ښه یې.

مشـر ورور مـې رابانـدې پـوه شـو ، مـور تـه يـې وويـل: والاکـه بـه کلينيـک تـه ځـي ، لـه ملګرو سره ځي.

مور مې په غوسه شوۀ: ته دا شپه نه ګورې ، بيا دا نن سبا ملګري.

ورته مې ووې: مورکې ، هسې وايي ، هېڅرته هم نه ځم ، ډاکټر و.

سـمه ده يـې وکـړل او بيـا يـې زياتـه کـړۀ: ګـوره ، چـې بلـه خـوا لاړ نشـې ، بيـا پوښـتنه هـم درپسې کوم.

نه ځم مې ووې او ترې راوواتم.

لـږ منتظـر شـوم ، چـې ملګـري مـې مـوټر وداروۀ ، ويـل يـې راخېـژۀ ، ور پورتـه شـوم ، سـتړي مشـي مـو وکـړل ، هغـه وويـل: هغـوی نابلـده دي ، هلتـه هـډې تـه ورځـو. سـمه ده مې ووې او حرکت مو وکړ ، څو شېبې وروسته ور وراسيدو ، دوی لا نه وو راغلي.

هملتـه د سـرک پـه غـاړه ورتـه منتظـر شـو ، چـې راغلـل ، مـوټر تـه راپورتـه شـول ، ملګـري اباسين د خپل کور په طرف حرکت وکړ.

خجـرې تـه چـې ورسـېدو ؛ نـو لـومړۍ مـې هيلـې تـه پـر وټسـاپ مسـېج پريښـود: زه نـن شپه له ملګرو سره پاتې يم.

نور مې موبايل کيښود.

ملګـري اباسـين زه او لـه کابـل څخـه راغلـي کسـان سـره معرفـي کـړو. د هغـوی لـه ډلـې يـو ډېـر نخـره يـي و ، پـه نـورو ټولـو بـه يـې ټـوکې کـولې او خنـدا يـې دومـره تېـزه وه ، چـې په نږدې ټولو ځايونو کې به اورېدل کېدۀ.

تقريبـا تـر نيمـې شـپې ناسـت وو ، زيـاتې کيسـې او ټـوکې ټکـالې مـو وکـړې ، بيـا ويـده شوو.

سـهار لـه چـايو څښـلو وروسـته مـې اباسـين تـه ووې: زه بـه لاړ شـم ، ځکـه کلنيـک او پوهنتون دواړه لرم.

تاته اجازه ده يې ووې ، رخصت مو سره واخيست کلينيک ته روان شوم.

له خجرې چې راوواتم ؛ نو هيلې ته مې زنګ وکړ ؛ خو پورته يې نه کړ.

لېر وروسته هغې زنګ راوواهه ، چې اوکې مې کړ ؛ نو سمدستي يې راته ووې: لوفره ته بيا چېرته پاتې وې ؟

ځواب مې ورکړ: اول خلک سلام کوي ، بيا زه عاجز او لوفري ډېر سره لرې دي.

په خندا يې وويل: وخې جار ، څومره عاجز يې ، ژاړه مې درته راغلهٔ ، ستا غوندې چې يو څو نور هم پيدا شي ، بس وطن جوړ دی.

ما هم په خندا ورغبرګه کړهٔ: ته خو هر وخت راته دا خبرې کوې ، چې کله نه وم ؛ نو ارمان به وکړې.

په بېړه يې ووې: خدای دې نه کوي ، داسې مه وايهٔ ، کنه جنګ درسره کوم.

سمه ده مې وکړل ، ما څه ويل ، چې هغه وړاندې شوه: الهاموو ، ياد شوی مې يې ، زړه مې درته وچ دی. دغه دوه / درې ورځې مو خبرې نه دي کړي ، داسې فکر کوم ، چې دومره کالونه وتلي دي.

ورته مې وويل: هيلووو ، زما هم ياد شوي يې ، دوه ورځې ته نوکري وې او ببکا بيا زه له ملګرو سره پاتې وم ؛ خو شکر دی ، چې اوس وغږېدو.

هغې ووې: چېرته يې ؟ داسې معلومېږې لکه کوم ځای ته چې روان وې ؟

ځواب مې ورکړ: هو ، لېر وړاندې له ملګرو څخه راوواتم ، اوس کلينيک ته روان يم ، په لاره کې يم.

ښه يې وکړل او بيا يې زياته کړهٔ: بابا خو مې څه درته ويلي نه وي ؟

حيران شوم ، هغه د نامعلومې شمېرې خبره مې په ذهن کې راوګرځې ؛ خو ځان مې ناګاره واچوهٔ ، ورته مې ووې: نه ، ماته خو يې څه نه دي ويلي ، څه شی وو ؟

ځواب يې راکړ: ببکا مې بابا په کور کې وې ، چې کابل ته به لاړ شو ، دغه ځای مناسب نه دی.

په حيرانۍ مې ورته وويل: هيلووو ، څه تاسې کور کابل ته وړئ ؟

هغې ووې: نه پوهېږم ؛ خو ببکا مې پلار دغه خبره وکړهٔ.

ماته هغه ګواښ سترګو ته وداربده ، له ځان سره مې وويل: ممکن ، هماغه علت وي ، ځکه بله خو داسې کومه خبره نشته ، زه چورت یوړم ، چې هیلې غبر رابانديې وکړ: څنګه غلی شوې ؟

ورته مې ووې: که تاسې هلته لاړ شئ ؛ نو زه به دلته څه کوم ؟

هغې ځواب راکړ: لومړی خو دې خدای وکړي ، چې بيخي لاړ نشو ، بیا که تلو ؛ نو زما لېونیه ستا غم هم زه خورم.

ورته مې وويل: دا به ډېره سخته شي. ستونی یې تازه کړ ، راته یې ووې: الهامیه ، ته اوس په لاره يې ، خوند يې وکړ ، چې سره وغږېدو ، زه هم ځان تیاروم ، پوهنتون ته ، ان شاءالله مزدیګر ته زنګ درته کوم.

سمه ده مې ووې ، خدای په اماني مو وکړۀ.

کلينيک ته نږدې شوی وم ؛ په همدې مې چورت وهۀ ، که هیله دوی کور کابل ته یوسي ؛ نو زه به څه کوم ؟

بیا مې له ځان سره ووې: باید یو ځل په هغه امنیت کې ملګري پسې زنګ ووهم او د کس پوښتنه به ترې وکړم ، چې څوک و او ولې یې د هیلې پلار ته اخطار ورکړی و ؟

په همدې فکرونو کې د کلينيک له دروازې ننواتم او سیده خپلې کوټې ته لاړم ، تر هغه منتظر وم ، چې ډاکټر صیب راغی ، اجازه مې واخسته او پوهنتون ته روان شوم.

په لاره مې ټول فکر د هیلې له خبرو سره و ، هېڅ پوه نه شوم ، چې څه ډول تر پوهنتون راورسیدم.

پوهنتون شروع او رخصت شو ؛ مګر زه نه پوهېدم ، چې څه مو وکړل. فکر مې کاوۀ ، چې یو څه مې ورک کړي دي.

بېرته کلینیک ته لاړم ، تر مزدیګر همدا سوچونه راسره مل و ، چې هیلې زنګ وکړ.

سلام او پوښتنه مو سره وکړل ، هغې وويل: الهامه ، که کیږي ؛ نو سبا دې مورکه زموږ کره راشي ، زه به مې خپلې مور ته هم ووايم ، چې د يو بل په نوم شو ، نور به هر څه کیږي.

ورته مې ووې: زه هم په دغه نظر یم ، که ریښتیا کابل ته لاړ شئ ، هسې نه خبره خبرابه شي.

هو کنه یې وکړل او بیا یې زیاته کړه: پلار مې د یوې خوږې خبرې سړی دی ، بل مې تروړزي هم شله دي ، چې هیله به موږ ته راکوئ.

ورته مې وویل: بس زه بېګاته له مور سره غږېږم ، ان شاءالله سبا به درشي ، ته دې هم مور پوهه کړه.

ته بې غمه شه ، ما به مې مور تیاره ملا کړي وي یې ووې او بیا یې زیاته کړه اوس زه له مور سره لږ کار کوم ، ته چې کور ته لاړ شې او له مورجانې سره وغږېږې ؛ نو بېګاته بیا ماته احوال راکړه.

ورته مې وویل: ښه سمه ده ، زه بیا زنګ درته کوم. خدای په اماني مو وکړه او اړیکه پرېکړه.

ماښام چې کور ته لاړم ، کوچنی ورور مې د باندې و او مشر هغه لا له دندې نه و راغلی ، مور ته مې ژر ، ژر کیسه وکړه ، چې سبا باید د هیلې غوښتو ته لاړه شې.

راته یې ووې: سمه ده ؛ خو هغه بل ځل هم خپل غلي شول.

ورته مې وویل: ته ورشه ، نور ان شاءالله مشکل نشته.

سمه ده ، سبا به ورشم یې ووې. موږ په همدې خبرو لګیا وو ، چې مشر ورور مې هم راغی ، زه له ځای پورته شوم ، د باندې راووتم او مور مې نغري ته لاړه

یو ډول پټ په زړه کې خوشال وم ، چې هیله به زما شي ؛ خو وېره هم راسره وه ، هسې نه چې پلار / مور یې اوس ونه مني ، هغه وخت به یې هسې ویلي وي.

له هټۍ (دوکان) مې مستې راسره واخیستې او بېرته کور ته لاړم.

مور مې لکه چې ورونو ته کیسه کړي وي ، ځکه مشر ورور راته ووې: هلکه ، لکه چې ښځه غواړې ؟

په خندا مې ځواب ورکړ: زه خو یې نه غواړم ؛ مګر چې مور یې راته کوي ، بیا خو یې نشم خپه کولای.

کوچني ورور مې مور ته مخ ور واړوهٔ او ورته يې وويل: بېره پرې وکړهٔ ، چې زما موټر نوبت ته ودرېږي ( زما وار ) شي.

ټول وخندل ، بیا مې مور راته ووې: زویه ، خدای مهربان دی ، ډېر ښه خلک دي ، چې هغه مې اينګور شي ، نور هېڅ نه غواړم ، په هر څه پوره ده ، هغې نور څه ويل ، چې عابد په خبره کې ورولوېدهٔ: هغه وخت چې ماته دې ښځه کوله ، دا خبرې خو نه وې ، داسې دربانديې دغه زوی ګران دی.

مور مې په خندا ورته ووې: هو ، ته خو مې زوی نه يې ، پرادی يې ، يوازې مې دا زوی دی او خبره يې وغځوله: الهام په زړه کې صفا دی ، ځکه به خدای ښکلې برخه ورکوي.

تر ناوخته پر همدې موضوع بحث روان و ، بيا مې مور ډوډۍ تياره کړهٔ ، چې ځان مې موړ کړ ؛ نو هيلې ته د زنګ لپاره د جومات په بهانه له دوی څخه دې باندې راوواتم.

لمونځ چې مې وکړ ؛ نو ما ويل هيله به راته منتظره وي ، زنګ مې ورته وکړ.

پوښتنه مو سره وکړهٔ ، هغې ووې: څنګه له مورکې سره وغږېدې ؟

ځواب مې ورکړ: هو ، تر اوسه په همدې بحث وه ، چې زه ترې د باندې راوواتم ، بيا مې له هغې پوښتنه وکړهٔ ، چې څنګه چل شو ، تا مور پوهه کړهٔ ؟

هو يې وکړهٔ او زياته يې کړهٔ: مور ته مې له مزديګر راهيسې سبقونه روان کړي دي ، چې بېګاته مې پلار ته داسې ووايهٔ او هسې ، اوس ماښام يې راته وې: بس نور زه خپله پوهېږم ، سپين سترګې.

په خندا مې ورته ووې: نن زموږ هم همدا حال و ، مورکه سبا ان شاءالله درځي.

سمه ده يې وکړل او بيا يې زياته کړهٔ: يوه خبره وکړم ؟

ورته مې وويل: هو ولې نه ؛ خو چې سخته نه وي.

په خندا يې ځواب راکړ: مه وېرېږهٔ ، سر له نن څخه به ستا ادبي نوم (تخلص) ژوند وي ، ځکه ته زما ژوند يې. بيا يې ووې: ته ګورهٔ ، له نوم سره دې څومره ښکلی راځي ، الهام ژوند.

حیران شوم ، په ریښتیا هم خوږ رابانديپ ولګېده ، له ځان سره مې څو ځلې تکرار کړ. په همدې چورت کې ډوب شوم ، چې هیلې رابانديپ غږ کړ: ښنګه غلی شوې ، لکه چې خوند یې درنه کړ ، بس بیا مرګ کیږدهٔ.

مور دواړو وخندل ، ورته مې ووې: والا دومره ښه رابانديپ ولګېده ، دې ته فکر یووړم ، ځکه غلی شوم.

ښه بیا خو مبارک شه یې ووې او زیاته یې کړۀ: له نن نه وروسته زه هم هیله ژوند شوم.

ورته مې وویل: بیخي ښکلي او مناسب شول ، تاته دې هم مبارک وي.

مننه یې وکړۀ او راته یې ووې: بس ورځۀ نور ارام ویده شۀ ، که خدای کول سبا به ځانګړي ورځ وي ، بیا به سره غږیږو.

ان شاءالله مې وویل ، خدای په اماني مو وکړۀ او اړیکه مو پرېکړۀ.

کور ته راغلم ، مور مې ځان ته ځای تیاروۀ ، خملاسته ، زه خپلې کوټې ته لاړم.

کړکۍ مې راخلاصه کړۀ ، نږدې په توشک کېناستم ، له باندې ښخه یخ باد راننواتۀ ، خوند یې راکړ.

یو ډول پټه خوښي مې محسوسوله ، له ځان سره مې ویل ، سبا به مې مورکۍ له ښه زېري سره راځي ، نور وخت راغلی ، چې هیله ژوند زما شي.

همدې فکرونو مې له سترګو ښخه د خوب ښاپېرۍ الوزولي وې ، تر ناوخته ویښ وم ، نیمه شپه به وه ، چې ویده شوی وم.

سهار چې راپورته شوم ، لکه دا هر څه چې مې خوب لیدلی وي ، بیا مې ذهن ته راغلل ، چې نه دا ټول ریښتیا دي.

له چایو وروسته ، چې زه کلینیک ته روانېدم ، مور مې ووې: زه یو ځل له ګاونډیانو کره ځم ، چې هغه ترور یې بل چېرته لاړه نشي.

ورته مې وویل: سمه ده ، زه خپل کار ته ځم ، نور ته پوه شۀ او کار دې ، ترې راوواتم.

نن د نورو ورځ په پرتله راباندې ناوخت و ، رېشکې ته پورته شوم ، د کلينيک مخته ښکته شوم ، خاضري مې امضاء کړۀ ، د پوهنتون لار مې ونيوۀ.

نن زه خوښ وم ، هر څه راته خوښ ښکاره کېدل ؛ خو ورځ قسم کړی وه ، چې ژر به نه تېرېږم ، د کال غوندې اوږده شوۀ.

له پوهنتون چې راغلم ؛ کوچني ورور ته مې زنګ وکړ ، مور کور کې ده ؟

هغه وويل: نه ، تر اوسه نه ده ، راغلې.

هيلې ته مې هم زنګ نشو کولای ، چې پوښتنه مې ترې کړي وای ، څکه پوهېږم ، چې د مور دوی سره به ناسته وي.

بلاخره ددې اوږدې او له انتظار ډکې ورځې مزديګر شو ، لمر ورو ، رور خپلې لمنې ټولولې او د غرونو شاته يې ځان پټوۀ. ماښام ته نږدې ، چې د هيلې پلار له کلينيک ووت ، زه هم کور ته روان شوم ، چې ورسيدم ؛ نو مور مې راغلې وه.

دروازې ته نږدې د اوبو په نالکۍ اخته وه ، له سترې مشې سره سم مې پوښتنه ترې وکړۀ: مورکې ، څنګه شوه ، د هيلې دوی لره لاړه وې ؟

مور له ځايه راپورته شوۀ او راته يې ووې: هو الهامه زويه ، تللې وم ، ورځ مې ټوله هلته تېره کړۀ ، مزديګر ناوخته راغلم.

بيا مې پوښتنه ترې وکړۀ: ښه نو څنګه شوه ، د هيلې په اړه دې ورته ونه وې ؟

نالکۍ يې بند کړۀ ، ځواب يې راکړ: ولې نه ، مور ته مې يې ووې. ويل يې ، چې زه ستاسو نه بل ښه ځای لور ته نه غواړم ، د پلار به يې هم خوښه وي ؛ خو بېګاته چې راغی يوه مشوره به ورسره وکړو.

له خوښۍ مې نږدې چيغې کړې وې ، له مور مې کلکه غېږه تاوو کړۀ او په تندي مې ښکل کړۀ.

ورته مې وويل: بيا مورې ته احوال راکوي ، چې له پلار سره وغږيږي ؟

هو يې وکړل او زياته يې کړۀ: مور يې راته ووې ، چې بېګاته مورې سلا سره وکړو ؛ نو زنګ درته کوو.

ما څه ويل غوښتل ، چې مشر ورور مې هم په دروازه راننواتۀ.

درې واړه کوټې ته لاړو.

عابد هم له مور څخه د هیلې دوی کره د تګ پوښتنه وکړه ؟

مور مې ماته کړي خبرې ورته تکرار کړې.

ما څه ویل ، چې عابد وړاندې شو: هلکه ، پیسې راپیدا کوه ، چې غم دې خلاص کړو.

په خندا مې ورته ووې: مشر ورور مې یې ښځه خو به راته کوې.

مور مو په خبرو کې راولوېده: اوس د ټوکو وخت نه دی ، دومره لږ راپیدا کړئ ، چې لاسنیوي (دسمال) ور وړلو کې یې ورکړو. مشر ورور مې ورته ووې: سمه ده ، یوه اندازه به زه راپیدا کړم او یوه اندازې به الهام ، چې اوس دغه کار پرې وکړو ، نور بیا خدای مهربان دی.

په همدې خبرو لګیا وو ، چې د نرسې زنګ راغی ، اواز مې پرې بند کړ ، بېرته مې جېب ته کړ. شېبه وروسته یې بیا زنګ وکړ ، د باندې ورته راوواتم ، چې اوکې مې کړ ؛ نو سمدستي یې راته ووې: الهامه زما د ترور لور هیله دې مبارک شه ، ژوند دې ورسره خوږ شه ؛ مګر نور یې خبرې ورکې شوې ، څو غږونه مې ورته وکړل ، ځواب یې نه راکاوه ؛ خو بیا یې په ژاړه غوني غږ دغه خبره وکړه: زه به هیلې ته ووایم ، چې په تا ډېر پام کوي ، اړیکه یې پرېکړه.

زنګ مې ورته وکړ ؛ خو شمېره یې بند وه. سخت زړه مې پرې وسوځېده ؛ مګر هېڅ چاره نه وه.

بېرته کوټې ته لاړم ، فسبوک مې راخلاص کړ ، چې کړنګ وټساپ ته مې د هیلې مسېج راغی ، لیکلي یې و: زما الهامووو چې ویده نشې ، زه ناوخت کې زنګ درته کوم.

سمه ده مې ورته ولیکل ؛ خو اوس یې وټساپ بند و.

ډوډۍ چې مې وخوړه ؛ نو جومات ته لاړم ، له لمانځه وروسته په نږدې دوکان کې لږ کېناستم ؛ خو خوند یې رانه کړ ، بېرته کور ته راغلم.

تر ناوخته سره ناست و ، بیا چې هغوی ځملاستل زه هم د څنګ کوټې ته واوښتم او د هیلې زنګ ته منتظر وم.

د شپې يوولس بجې شوې ؛ خو پته يې ونه لګېده ، سترګې مې درندېدې ، ما ويل ويده نه شم ؛ د باندې ته راوواتم ، له کړکۍ سره نږدې مې ځان ته چوکۍ کېښودۀ ، چې کېناستم ؛ نو د هيلې زنګ راغی. په بېړه کوټې ته راغلم ، د زړه له درزا سره مې موبايل اوکې او سلام مې وکړ. عليکم سلام يې ووې او بيا يې زياته کړۀ: الهامووو څه ډول درته ووايم ، بابا مې هم خبره ومنلۀ ، زه نور ستا شوم.

لکه خوب چې وينم ، هېڅ باور مې نه لګېده ، له سترګو مې بې احتياره اوښکې رواني شوې.

هيلې غږ کړ: الهامه ، څنګه غلی شوې ؟

ورته مې ووې: هيلووو ، نور خبرې راڅخه ورکې شوې ، هغه راباندې پوه شوۀ ، چې ژاړم.

په حيرانۍ يې وويل: اې لېونيه ، ته ژاړې ؟ ولې ؟

ځواب مې ورکړ: هيلوووو ، دا څنګه شېبه ده ، دا هر څه اوس ريښتيا دي ؟ زه دومره بختور يم. ما نور څه ويل ، خبره مې يې ونيوۀ: زما ښکليه ، بس کړۀ ، ژاړه مه ، ستا سره خندا خوند کوي ، وخاندۀ.

سمه ده مې وکړل.

هغې ووې: مور دوی تر اوسه ناست دي ، زه ورځم ، فقط مې ته خبرولې ، سبا مې بابا ستا مشر ورور ته زنګ وهي.

ورته مې وويل: هله ورځۀ ، سمه ده بيا سره خبرېږو.

اړيکه مو پرې کړۀ ، ښې پرېمانه د خوشالۍ اوښکې مې توی کړې ، خدای ته مې د شکرانې سجده وکړۀ.

تر سهار خوب رانغی.

نن چای هم خوند نه راکاوۀ ، همداسې کلينيک ته لاړم. په خپل ځای کې وم ، چې ډاکټر کلينيک ته راغی ؛ نو يې زه وغوښتلم.

زړه مې بې واره ټوپونه وهل ، معاينه خونې ته يې ورننواتم ، سلام مې وکړ.

عليکم سلام يې ووې او بيا مخامخ چوکۍ ته اشاره وکړۀ ، چې کېنه.

د کړکۍ پرده یې کش کړه ، مخ یې راواړوه ، راته یې وویل: الهامه ، دا حق انسانانو ته الله تعالی ورکړی دی ، چې پخپله خوښه د ژوند ملګری ځان ته وټاکي ، کورنۍ ته پکار نه ده ، چې مخالفت یې وکړي ؛ خو د هلک او جینۍ ښه او بد باید وګوري.

زه مې خپلې لور ته ستا څخه بل هېڅوک غوره نه بولم ، ته په هر هغه څه پوره یې ، چې زه یې د لور لپاره غواړم. دلته چې راتلم ؛ نو په لاره کې مې ستا مشر ورور ته زنګ وکړ ، هغه ته مې هم ووې ، هر کله مو چې خوښه وي ، راشئ لاسنیوی به وکړو ، زما لور ستاسو ده.

ما سر لاندې اچولی و ، مړې خوالې رابانديې راماتې وې ، د هیلې پلار خبره وغځوله: زه مې د لور یوه روپۍ هم نه غواړم ، چې شومره مې له وسه پوره وي ، هغه همکاري به هم کوم. اوس ستاسو راتګ په تاسو پورې اړه لري ، چې شومره کسان راولئ ، زه ډوډۍ ورته کوم ، بیا یې وایم ، زه مې لور خرڅوم نه ، نه تاسو د چا سوال ته کېنوم ، د خلکو له مخه به خط سره ولیکو ، نور زه یوه روپۍ هم نه غواړم ، چې څنګه ستاسو خوښه وي ، هماغسې درسره ځو.

مننه مې وکړه ، ورته مې وویل: سمه ده ، چې څنګه ستاسو خوښه وي.

هغه بیا ووې: نه ، ته چې لاړې ؛ نو په کور کې همداسې ورته ووایه.

سمه ده مې وکړل ، ما څه ویل چې هغه له ځای پورته شو او زما خواته راغی ، یو بنډل پیسې یې ماته ونیوې ، دا واخله.

حیران شوم ، ورته مې وویل: په دې څه وکړم ؟

ځواب یې راکړ: کله چې راځئ ؛ نو دغه به درسره راوړئ ، زموږ ستاسو د تربورانو وطن دی ، خپل پرادی به وي.

ما څه ویل غوښتل ، هغه ووې: بس نور خبرو ته اړتیا نشته ، دا واخله ، چې څه زه وایم ، هماغسې وکړه.

نه پوهېدم ، چې اوس څه وکړم او څه ورته ووایم ، هغه پر خپلې چوکۍ کېناست راته یې وویل: ته نن رخصت یې ، ورځه دغه کار وکړه..

ماته ګوډه مننه مې وکړه ، د خدای په امانۍ وروسته کور ته روان شوم.

په ټوله لاره د هیلي پلار مهربانۍ ته حیران وم ، له ځان سره مې ویل: کاش! هر پلار داسې اوسي ، کاش! ددې ټولنې هر وګړی داسې مهربان وای. له زړه مې بې اختیاره دعا ورته واتله.

تر کوره هېڅ په لار پوه نه شوم ، چې څه ډول راغلم ، له لویې دوازې چې راننواتم ؛ نو مور ته مې غږ کړ.

مور مې غږ ونه وکړ ، چې کوټې ته راغلم ، راډیو ورته چلند چای ته ناسته وه ، زما په لیدو حیرانه شوه ، راته یې ووې: ته کلنیک ته نه وې تللی ؟

ولې نه تللی وم مې ووې ، تر څنګ یې کېناستم.

مور مې بیا پوښتنه وکړه: نو ولې دومره وختي راغلې ، خیر دی ؟

د چای پیاله مې ځان ته ډکه کړه ، د هیلې پلار راکړي پیسې مې د مور مخته کېښودې او ټوله کیسه مې ورته وکړه.

مور مې نه منل ، راته یې وې: هر وخت ټوکې مه کوه ، له چا دې واخیستې ؟

ورته مې وویل: باور وکړه ، همداسې وي ، چې څنګه درته وایم.

په حیرانۍ یې راته یې ووې: الهامه زویه ، ما چې څومره فکر کاوه ، دوی له هغه هم پورته ښه وختل ، بیا یې له سترګو اوښکې روانې شوې او په غریبو نیولي غږ یې زیاته کړه: ټوله شپه پیسو ته په زړه کې نیولي وم ، دومره زارۍ مې خدای ته کړي ، چې تر سهاره مې خوب نه دی کړی.

اوښکې مې یې په لاس وچې کړې ، ورته مې وویل: مورکې ، ریښتیا چې خدای ډېر مهربان دی او هغه څه کوي ، چې زموږ ستاسو په فکر کې به هم نه وي.

د مور مې له خوښۍ بیخي رنګ بل ډول شو ، ښه شېبه مو وژاړل او بیا یې ماته مخ را واړوه: زویه ، دا زما ارمان وه ، چې تاته یوه ښکلې جینۍ وکړم ، لکه چې دغه ارمان مې هم پوره کیږي.

غبږ مې تریڼه بدله کړه ، په تندي مې ښکل کړه ، ورته مې وویل: هو مورکې ، ان شاءالله.

تر ډېره په همدې موضوع سره لګیا و ، بیا مې مور له ځایه پورته شوه ، ډوډۍ به پخه کړم ، چې بېګاته عابد راشي ؛ نو د لاسنیوی وخت به وټاکو او څومره چې زر کیږي ؛ نو ښه ده.

سمه ده مې ووې ، هغه نغري ته لاړه او زه د باندې راوواتم.

کله یوه خوا کله بله خوا ؛ خو ورځ تېره شوه ، ماښام مې چې مشر ورور راغی ، مور مې ورته ټوله کیسه وکړه ، بیا د هیلې دوی کره د ورتلو په سر خبرې شوې ، بلاخره د ټولو نظر دا شو ، چې د جمعې په ورځ یعنې سبا نه بل سبا به ورځو.

مشر ورور مې وویل: ډېر بیروبار نه جوړوو ، هغوی هم نه په تکلیف کوو او ځان هم ، فقط چې یو څو کسان ورشو خلاص.

مور مې هم دغه خبره ورسره تائید کړه ، زه او کوچنی ورور مې غلي وو.

همدا پرېکړه وشوه ، مشر ورور مې د هیلې پلار ته زنګ وکړ او همدا نظر یې ورسره شریک کړ. هغه ورته وویل: بس له دې ښه خبره نشته ، زما هم همداسې خوښه ده.

ماما ، ترور او تره مو انتخاب کړل ، چې هلته به راسره ځي.

دغه دوه د کالونو غوندې ورځې هم تېرې شوې ، د جمعې شپې ماښام مو خبر کړي خپلوان هم راغلل.

د شپې تر ناوخته سره ناست وو ، هرې خواته شور وو.

یوه بجه به وه ، چې تره مې ووې: هله نور ویده کېږو ، سبا ورځ او شپه هم پاتې دي.

ټول خملاستل ؛ خو ماته له خوښۍ تر ناوخته خوب نه راتله ، سهار ته نږدې ویده شوم ، چې د ماما په غږ بېرته راپورته شوم.

لمونځ چې مې وکړ ؛ نو د باندې راوواتم. کله چې لمر راښکاره شو ، کور ته راغلم.

هر څوک د ځان په سینګارولو لګیا وو ، ترور ته مې ووې: ښځه ماته کوې ، خوشال تاسې یئ. په خندا یې ځواب راکړ: خود به خوشالېږم ، خدای داسې وخت راوست ، وراره مې دومره لوی شول ، چې ښځې ورته کوو.

کوچني زوی یې له کوټې ورته راغږ کړ: ادې ، زر کوه ، جامې رابدلې کړه.

ورته مې وویل: هله ورځه ، زه هم د څنګ کوټې ته راغلم.

تقریباً نهه بجې به وې ، چې درې له ښځو ، سړیو او ماشومانو ډک موټر د هیلې دوی کور په طرف روان شول.

زه کور کې پاتې شوم ؛ خو زړه مې له دوی سره د هیلې په لور لاړ و.

لږ وروسته زه هم ښار ته راوواتم ، تر غرمې ناوخته وګرځېدم ، کله چې ډوډۍ ته کېناستم ؛ نو د هیلې زنګ راغی ، له اوکې سره یې راته ووې: الهامووو ، مبارک شۀ ، زه یې ستا په نوم کړم.

له خوشالۍ به خدای خبر په کوم حال وم ، ورته مې وویل: زما هیلوووووو ، تاته دې هم مبارک وي.

هغې په بېړه زیاته کړۀ ، اوس خلک دي ، بیا غږېږو. سمه ده مې وکړل او اړیکه مې پرې کړۀ.

ورپسې مې مشر ورور زنګ راته وکړ ، مبارکي یې راکړۀ ، بیا یې راته وویل: مور نور درځو ، د شپې لپاره له کومې نانوایۍ ولا سره د ډوډۍ خبره وکړۀ ، ناوخت کې به بیا نه وي. ورته مې ووې ، همدا اوس ورسره غږېږم. موبایل یې قطع کړ.

د کور سره نږدې نانوایۍ ولا سره مې خبره وکړۀ او کور ته راغلم.

لمونځ چې مې وکړ ، د باندې په برانډه کې ناست وم ، دوی راغلل. مور او ترور مې له دروازې په ګډا شروع وکړۀ ، زه هم له ځای څخه پورته شوم ، چې څوګ به له لویې دروازې راننواتل ؛ نو ګډه به یې کوله. ماته چې رانږدې شول ؛ نو چکلېټ شیان یې راباندې وشیندل ، چا زرورکې راباندې وپاشل ، ټولو مبارکي راکوله.

زما له خوښۍ یو الله خبر و.

له ډېرې مودې وروسته ، هغه هیلې ته وراسېدم ، چې اصلاً زما ذهن نه اخیستل ، باور مې نه کېدۀ.

د شپې په کور کې یو شور جوړ و ، دریا وهل کېده ، سندرې وې او بلاخره الهام ژوند ته د هیلې ژوند د کوژدې دسمال راوړل شو او هیله د الهام په نوم شوه.

## د ناول پای